


Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library




Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د کتاب پېژندنه:

|||||||||||||||||||||||||||||||||||||||||

د کــتـــاب نــــــوم: کي جي بي په افغانستان کي

لیـــــکـــــــــــــوال: واسیلي متروخین

ژبـــــــــــــــــاړن:رحمت اریا

خـــپـــــرنــــــدوی: دانش خپرندویه ټولنه

تیراژ : زر ټوکه

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



# کي جي بي په افغانستان کې لومړۍ برخه

ګرانو هېوادوالو او ښاغلو لوستونکو!

په افغانستان کې د روسانو د سیاسي او پوځي جنایتونو او خیاتونود لړۍ د خپراوي په لړ کې دا دی تاسو ته د کي جي بي د یوه پخواني مأمور واسیلي میتروخین د کتاب لړۍ را ژباړم چې د ژباړنې لړۍ به یې په پرله پسې ډول خپره شي. دغه کتاب [کي جي بي په افغانستان کې ] نومیږي.

## واسیلي میتروخین څوک دی؟

د واسیلي میتروخین د پیژندلو لپاره غواړم تاسو ته د امریکا د متحده ایالاتو د پیاوړي او نامتو لېکوال ښاغلي بروس ګ. ریچارډسن د کتاب[افغانستان: د رښتیا پلټـنې] بشپړه ځانګړې برخه[فعاله اقدامات] له ۱٦٦ تر ۱۷۴ پاڼې پورې ډالۍ کړم چې د ژباړې کار یې ما تر لاس لاندې نیولی دی .

د دغه کتاب پښتو ژباړه به ډېر ژر هېوادالو ته وړاندې شي. د ښاغلي بروس ریچارډسن د کتاب دویمه انګلیسي طبع ډېر ژر خپریږي چې پرهمدغې نوې طبعې ما هم یو لنډه کتنه لیکلې ده. کله چې د کتاب دویمه انګریزي طبع خپـره شوه نو د دعوت او بینوا د ویب پاڼو له لارې به تاسو ته خبر در کړل شي .

ددغې لیکنې په ترڅ کې لومړی د واسیلي میتروخین د لا پیژندلو لپاره تاسو د بروس ریچارډسن لیکنې ته را بولم او ورپسې به د واسیلي میتروخین د کتاب [کي جي بي په افغانستان کې] لومړۍ لنډه برخه چې د [ګوند بنسټ ایښودنه] نومیږي و لولۍ. کله چې ددغه ۱۸۰ پاڼـیز کتاب ژباړه بشپړه شوه ، نو ټول کتاب به د یوه بشپړ کتاب په بڼه پر هغه لیکل شوې کره کـتـنې اوپه کتاب کې د ښکېلو شننونکو، مصححانود نومونوله لړ لیک سره یو ځای خپور کړم.

اوس مې دغه برخه نیغ په نیغه د واسیلي میتروخین له لیکنې را پیل کړې اود لړۍ خپراوی به یې د بینوا ویب پاڼې له لارې دوام ولري.

له ښاغلو لوستونکو څخه په درنښت غوښتنه کوم چې ټول لمنلیکونه دې په ډېرځیر ولولي ځکه دغه لمنلیکونه پر متن پخه رڼا اچوي. واسیلي میتروخین په متن کې دننه یو شمیر نومونه کټ مټ هاغسې لیکلي دي چې په لاسوندونو کې لیکل شوي دي خو د هغو د لا روښانونو لپاره یې په لمنلیک کې یا لیکوال او یا مصححانو شرح ورکړلې ده. د لمنلیک په هغو ځایونو کې چې تاسو [د مصحح یادښت: څرګنده نه شوه] و ګورئ ، ددې مانا ښندي چې یاپه لاسوند کې [کوډ نوم دی] او یا مصحح د هغه په څرګندونې نه دی بریالی شوی.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د واسيلي ميروخين د لیکنې په لمنلیک کې ټولې لیکنې یا د لیکوال او یا د مصحح دي او زه [ژباړونکی] پکي هيڅ ډول گډون نه لرم. ما يوازې تر وسه وسه هڅه کړې چې پرته له کـمـوني يا زيادښته ، اصل متن کټ مټ په ډېر ځير او امانت را وژباړم .

رحمت آريا

دسامبر ۲۰۰۸

فعاله اقدامات

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ټول حقایق له دریو پړاوونوڅخه تیریږي : لومړی پرې ملنډې وهل کیږي ،دویم له توند مخالفت سره مخامخ کیږي او دریم ، د څرګند حقیقت په توګه منل کیږي ..... شوپـَنهاوَر]1[

په ۱۹۹۲ ز کال کې د شوروي د ستراواکۍ د نړیدا د شپو ورځو په شنو لوخـَړو کې د [واسیلي میتروخین] 2[] په نامه د کي جي بي [3] یوه مأمور د استونیا[4] د تالین [5] په ښار کې غوښتل د امریکا د متحده ایالاتو سفارت ته پناه یوسي. هغه څرګنده کړه چې د دولس کالو په اوږدو کې یې د کي جي بي د لاسوندونو له پټ آرشیف څخه ۲۵۰۰۰لاسوند پاڼې په پټه کاپي کړي دي. نوموړي دغه یادښتونه په خپلو کالیو ، بوټانو کې او د دروازو له لارې له ودانۍ څخه دباندې را ایستلي او په وسپنیزو کانتینرونو[6] کې یې د خپل کلیوالي کور په یوه ګوټ کې تر خاورو لاندې ښخ کړي ول. له هغه وروسته د شوروي ګڼ شمیر جاسوسانو او په خارګرو څانګو پورې نورو اړوندو کسانو جعلي یا بیکاره لاسوندونه د لویدیځو هیوادونو خارګرو څانګو ته وړاندې کړل او سي آی اې ټول را ټول کړل. سي آی اې میتروخین دوه ځله رد کړ .

په پای کې میتروخین د خپل کار له ارزښت څخه د بریتانیې د خارګرې څانګې زړه او ډاډ تر لاسه کړ. هغه دغې خارګرې څانګې ته دغه لاسوندونه په دغه آړ(شرط) ورکړل چې په بـَدَل کې یې په انګلستان کې ورته د استوګنې حق ورکړل شي. کله چې میتروخین په خپل نوي هېواد کې استوګن شو هغه د [توري او ډال] 7[] تر نامه لاندې د کتاب په لېکلو پیل وکړ [: د میتروخین آرشیف او د کي جي بي تأریخ. د بریتانیې د خارګرۍ د تأریخ د نومیالي لیکوال ، کریستوفر اندریو [8] په مرسته .] ددې ترڅنګ میتروخین د سړې جګړې د تأریخ د نړیوالې پروژې[9] په همکارۍ چې په واشنګتن ډي سي کې د پوهانو لپاره د وودرو ویلسن د نړیوال مرکز[10] په مرسته کار کوي یو شمیر مونو ګرافونه ولیکل.

د کي جي بي د لاسوندونو پر دغه عینکي آرشیف ټولونکي د آپرینونو او شاباشونو وریا و وَریدله چې د خپل سر په بیه ، د بندي کېدلو او ان د مرګ په ګواښ یې د کي جي بي د پټو لاسوندونو له ارزښته ډکه بې بیې پانګه چې ساری یې مخکې نه وو لېدل شوی د باندې را و ایستله. د میتروخین د را پاړېدنې لامل څه وو؟ ځواب څرګند او ساده دی، هغه نور نه شوای کولای په افغانستان کې د ځمکسوځونې [11]هغه تګلاره نوره و زغمي چې د شوروي د پوځ په لاس په دغه ناورین ځپلي هیواد کې تر سره کېدله او پریکړه یې وکړه له دغې دندې څخه نور لاس پر سر شي. تر دغه دمه د هغه وروستنی کار د [کي جي بي په افغانستان کې]12[] یوه څېړنیزه لېکنه ده ، [۴۰ شمیره څېړنیزه لېکنه] چې د وودرو ویلسن د مرکز[13] لخوا په ۲۰۰۲ ز کال کې خپره شوې او ښایي د میتروخین د کار بنسټیزه برخه وي.

میرتوخین لیکي چې د (فعالو اقداماتو]14[) ګـَړنه یا اصطلاح څرنګه چې د شوروي په خارګرو څانګو کې تعریف شوې کټ مټ د سي آی اې د ورځنیو خبرو اترو د (تورو عملیاتو]15[) اصطلاح ته ورته او له هغې سره برابره ده. په افغانستان کې د شوروي د فعاله اقداماتو په ډله کې دغو کړو وړو برخه درلودله : د مجاهدینو په ډلوکې مجاهدو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



هملاسو اود هغوی د ملګرو ګومارنه ، د مشرانو او نومیالیو کسانو وژنه ، اور اچـونه ، د خوراکي توکو د زیرمو زهري کول ، اله ګوله او سبوتاژ، په ډلو کې د خپلو جاسوسانو ننه ایستنه ، بدې ورکول ، د ویرې او ګواښ شیندل ، د کودتاګانو لپاره لاره هوارول، د وسلو ویشنه او د پروپاګند او غلطو مالوماتو د خپراوي په ګډون د ولسي وګړو او د مقاومت د ډلو پر وړاندې د نورو ترهګریزو کړو وړو بې بدیله چال چلند . د کي جي بي د بهرنۍ څارګرۍ د لومړي لوی ریاست د (ایس)16] څانګې [ایف سي ډي] ته د سپارل شوې دندې موخه دا وه چې د مقاومت د ډَلو هغه بولندویان چې اغیزمن دښمن بلل کېدل ، څانته را وګوماري، یا یې ګوښې ته کړي او یا یې له منځه یوسي او ریاست دغه دنده تر سره کړه. ( وګورئ : کي جي بي په افغانستان کې ، ۴۰ شمیره مقاله ، واسیلي میتروخین ، ۲۰۰۲ ، پپ ۱۴۳-۱۴۲ )[17]. د ۱۹۸۰ ز کال په لومړیو کې د ترهګرو د مخنیوي عملیاتو ته ټینګه اوږه ورکړل شوه او شورویانو لا له مخکې د مقاومت د ډلو په منځ کې د خپلو ایجنټانو پراخه څاله غوړلې وه. له ۱۹۸۰ زکال وروسته خاد[18] او کي جي بي دواړو د مقاومت په ډلو کې دننه د ډله ییز دښمنیو او یا له پاکستانه د وسلو د ویش له رښتونې یا ګوماني ونډې څخه د بې برخې شویو او نـومیدو یا ناهیلو شویو بولندویانو له نومیدۍ څخه په ګټه اخیستنې په کلکه هڅه وکړه چې د مقاومت د ډلو بولندویان څانته را واړوي. یوله دغو بېلګو څخه چې د شوروي د ګټو لپاره په لاره واچول شوه د سیالو مشرانو ترمنځ د ترخې شخړې اود دښمنۍ د تخمونو کرل ول. شوروي د ګوندونو تر منځ له شخړو اوخړنج (بې اتفاقیو) څخه ګټه واخیستله ؛ یوه خوا به یې د بډې ، پیسو او وسلو په ورکولو څانته را وګومارله او سیال لوري ته به یې په دوه وو پښوو دروله. (وګورئ: افغانستان، ستره لوبه ،بیا کتنه شوې ، ۱۹۹۰ زکال ، اصلاح او زیاتونه روزاني کلاس پ. ۴۲۱)] .19 ]

په ۱۹۸۲ ز کال کې د مسکود [بالاشیخا] [20] په سیمه کې د افغانستان لپاره یو روزنیز مرکز جوړ شو؛ د اتم ریاست یو افسر، ډګروال وي . کیکوت [21] په دې وګومارل شو چې د افغانستان د جګړې په سره تـناره کې اوپه هغه کې د ترهګرۍ د سرته رسولو د څرنګوالي په پام کې نیولوسره دې ، په لبنان کې د فسطیني کډوالو د کمپونو پرضد د اسرائـیلو له تر سره شویو تجربو څخه په ګټه اخیستنې او هم د منځنۍ آسیا په جمهوریتونو کې د مقاومت د غړو پر وړاندې د پیړیو پیړیو تجربو پربنسټ دې، د سبوتاژ د رامنځته کولو، د مخبرانو د ګومارلو او راخپلولو روزینز نصاب جوړ کړي. د څارګرو کار کوونکو په منځ کې ۳۱۵ ایجنټان او ۲۵۰ تنه زده کوونکي ول. دغې ډلې د ختیځو توکمونو له توکمیزو مشرانو او همدارنګه د سالنګ د لویې لارې په اوږدو کې د میشتو وګړو له مشرانو سره چې د کابل د نښلوونکي لارې لپاره ستر خنډونه ګڼل کېدل، اړیکي ټینګ کړل. هغو توکمونو او کلیو چې همکارۍ ته زړه ښه کاوه د همکارۍ د ونډې په کچه پنځول کېدل. ددغو پنځـونو یوه بېلګه د ۱۹۸۲ ز کال د دسامبر په مباشت کې د ننګرهار په ولایت کې له شینوارو سره یو تړون وو. دغه توکم د پاکستان پولې ته نیږدې په افغان خاوره کې د کابل � پیښاورد لویې لارې د غاړې په یوې برخې کې پروت دی. د تړون پر بنسټ کي جي بي ۱۰۰۰ تـنو توکمیزو کسانو ته دهر تن پر سرد مباشتې ۳۰۰۰ افغانۍ ومنلې چې ددغې مهمې لویې لارې ساتنه وکړي.پلان دا وو چې پولې

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ته نيږدې توکمونه ځانته د مليشاوو په توګه را و ګوماري او موخه دا وه چې له يوې خوا پوله بنده کړي او له بلې خوا د مقاومت ډلې له هغه ځايه ونه شي کولای ځانونه ددولت پروړاندې را سمبال کړي . خو ډيري دغسې ترونونه برياليي را ونه ختل وګورئ : افغانستان ، د شوروي د نيواک پينځه لومړي کلونه ، ج. بروس امستوتز ، ۱۹۸٦ پپ . ۲۹۰ � ۲۹۱ )[22]. دغو توکمونو اکثراً وختونه د مقاومت د ډلو د ملاتړ تر څنګ له کې جي بي او د افغانستان د ډيموکراټيک جمهوريت له ايجنټانو څخه پيسې او وسلې تر لاسه کولې. د مخبرانو پينځلس ډلې چې ټول ټال ۴۵۵ تنه کيدل د ځانګړو يا خاصو دندو د ترسره کولو لپاره ګومارل شوي ول ( وګورئ : کې جي بي په افغانستان کې ، مقاله ۴۰ ، واسيلي ميتروخين ، ۲۰۰۲ ، پ. ۱۴۲)[23]. ځارګرو څانګو داسې سوري او لارې ومونډلې چې له لارې يې کولای شوای د افغان مقاومت منځ ته ور ننوځي. د مقاومت په زړه کې د کې جي بي د ځارګرو تر ټولو اغيزمنه کودتا د ټولې جګړې په اوږدو کې له احمدشاه مسعود سره د اړيکو ټينګول او ساتل ول. ( وګورئ : افغانستنان ، د شوروي د ترهګرۍ د دَور پای ، بروس ريچاردسن ، ۱۹۹۸ پپ. ۲۵-۲۹ :[24] [ تراژيديا اي دوبلست افغانا � [ د افغانانو غميزه او زړورتيا - ژ ] الکساندر لياخوفسکي ، ۲۰۰۴ ، ٦۳۰ � ٦۵۴ : افغانستان ، سياسي اخلاقي ضعف او بهرنۍ لاسوهنې ، ډاکټر نبي مصداق ، ۲۰۰٦ پ. ۲۱۲) .[25]

خو د جاسوسانو او مخبرانو د استخدام هره لړۍ برياليۍ نه ختله. د هغو کسانو پر وړاندې ، " فعاله اقدامات" تر لاس لاندې ونيول شول چې د جاسوسۍ له استخدام سره يې مقاومت ښوده هغوی يا د خپلې ډلې په منځ کې يا اعتبار کېدل اويا رټل کېدل که له دغو نښو يوه يې پر ځای نه موښتله نو د شوروي د يرغل پر وړاندې د اغيزمن پوځي دښمن په توګه په پام کې نيول کېده. د " بيل يې کړه بيا يې ايل کړه" [26] د ستراتيژۍ تر رڼا لاندې ډيرې هڅې تر لاس لاندې ونيول شوې چې تر ټولو ستر او اغيزمن جنګيالي د يو بل پر وړاندې راپاڅوي او له يو بل سره وجنګول شي. کې جي بي د اسلامي ګوند د مشر ګلبدين حکمتيار د بې اعتباره کولو او بې اغيزې کولو لپاره (چې تر ټولو ستر او اغيزمن دښمن او جنګيالی يې باله) د همدغه ګوند د يوه مورچل يوه بولندوی ته د ګلبدين حمکتيار له نامه يو جعلي ليک جوړ کړی وو؛ " ليک " د پاکستاني ورځپاڼو له يوې مناسبې مقالې سره مل وو چې په هغه کې يې حکمتيار، د مجاهدينود ډلو د مشرتابه او د هغوی د پاکستاني چارواکو په سترګو کې د يوه بې لاري مشر په توګه بې اعتباره کاوه. په ورځپاڼه کې د همدغه ليک د ملاتړ لپاره يوه مقاله د کې جي بي د (فعاله اقداماتو) د عملياتو د يوې برخې تر سيوري لاندې په پاکستان کې د کې جي بي د جاسوسانو له خوا خپره شوې وه . په همدې وخت کې د کې جي بي يوه بله قْلابي چلوټه د افغانستان د اسلامي ګوند د يوه بې نومه غړي له پلوه د محمد نبي په مرکزي دفتر کې د يوه ليک پرې ايښودنه وه. ليک محمد نبي ته خبرداری ورکاوه چې " حکمتيار ستا د وژلو پريکړه کړې ده".د کې جي بي د غلطو مالوماتو د خپراوي کارپوهانو او ډنډوره چيانو ګنګوسې خپرې کړې چې ګنې حکمتيارپه کابل پوهنتون کې د خپلې زده کړې په موده کې د ښځو پر مخونو تيزاب ور شېندلي ول. د مسکو له ستوني را پورته کېدونکی ګډوله غږ [حقيقت او درواغ] د کې جي بي د غلطو مالوماتو د خپراوي له ماشينه راوتلي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



دي اوغلط مالومات يې د حقايقو په جامو کې خپاره کړي دي. (وګورئ : لوی دښمن ، د سي آی او اې او کې جي بي د خپل منځي لوبو کیسې ، [میلت بیرډن او جیمز ریزن ، ۲۰۰۳ پ. ۲۳٦). [27] هغو اینجنټانو چې د هېواد پالو کړوالو د کمیټې [28] تر سیوري لاندې یې ژوند کاوه په زرګونو تبلیغاتي پاڼې وویشلې او په هغو کې یې محمد نبي او حکمتیار دواړه په دې تورن کړل چې د افغان ولس د ګټو پروړاندې له اسلامي په شاتګپالو او ارتجاعي رژیمونو سره لاس لري. (وګورئ : کې جي بي په افغانستان کې ، واسیلي میتروخین ، ۲۰۰۲ ، پپ ، ۱۴۲ � ۱۴۳ ).[29] دغه له ۱۷۲ پاڼو را جوړ لاسوند څېړونکو ته د جګړې په اوږدو کې د شوروي د ځارګرو څانګو د کورنیو کړیو کړه وړه اود یوې لسیزې جګړې د اوږدوالي د اغیزو په تړاو پریمانه تشریحات په لاس ورکوي. خو دلته مو مخکې له مخکې یوه شي ته پام اوسه. ددغه لاسوند تشریحات ډېر پراخه او ستومانه کوونکي دي او د لاسوند په هېڅ یوې ګوښې کې د هغه سړي په اړه چې لویدیځ یې (د ګوریلایي جګړو ځلانده ستراتیژیست)[30] بولي او ګڼي د افغان له خاورې یې په یوازې سر د شوروي پیاوړی ځلوېښتم لښکر وایست ، یادونه نه ده شوی .... احمد شاه مسعود څنګه کیدای شي او څنګه ممکنه ده چې په دغسې یوه لاسوند کې د احمدشاه مسعود په شان دې د یوه پیژندل شوي سړي نوم چې ددغه لاسوند یوه بشپړه وونکې برخه ګڼل کیږي ورک وي؟ په دغه اړه دوه انګیرنې را برسره کیږي : لومړی دا چې پر مسعود څکه دومره پاملرنه نه ده شوې چې نومړی له ۱۹۸۰ زکال راهیسې د خپلو روسي او شوروي ولینعمتانو تر فرمان لاندې وو او له دې امله ( د فعاله اقداماتو عملیاتولړۍ) هېڅکله د هغه پرضد نه ده پلې شوې. دویم ، میتروخین د خپلو ټولو مالوماتو ټولګه په هاغه لومړي سر کې د انګلیس ځارګرې اداري (ایم آی ٦)[31] ته وسپارله. ټول پوهیږي چې (ایم آی ٦) له پخوا له مسعود سره مینه او پـټـپـټـانی درلود او د هغه ملاتړ یې کاوه. (ایم آی ٦) ، (بي بي سي) ، (خبریال او لیکوال " سندیګال")[32] او (آی ټي ان)[33] د یوې دسیسې په را جوړولو غوښتل د خپلو خوښو تر رڼا لاندې یو تبلیغاتي مستند فلم د (افغانستان د ټیـټو)[34] په نامه جوړ کړي [وګورئ : افغانستان،سیاسي اخلاقي ضعف او بهرنۍ لاسوهنې ، داکټر نبي مصداق ، ۲۰۰٦ پ. ۳۳۰ شمیره ۱٦][35]. [ جنرال اختر" دهغه افغان په تړاو چې نه یې غوښتل جګړه وکړي" ، ژور شک درلود. هغه پوهېده چې د " ایم آی ٦" ایجنټان د خبریال تر ځادر لاندې د مسعود لپاره د پروپاګند د ماشین یوه برخه ول" [وګورئ : د چارلي ویلسن جګړه ، جیورج کریلي ، ۲۰۰۳ ، پ ۱۹۸].[36[

دغه انګیرنه په بشپړ ډول معقوله بریښي چې (ایم آی ٦) د مسعود د ساتنې لپاره د میتروخین لاسوندونه چاڼ /اصلاح کړي دي ،سي آی اې له ډېرو پخوا وختونو پوهېدله چې مسعود په افغانستان کې د (ایم آی ٦) سړی دی او هېڅ شک نسته چې دغه لید د هغوی د نیکونوله مرژواندې پښتـني ضد تګلارې سره غاړه غړي کیږي. حقیقت دا دی چې ددغو دواړو انګیرنو یو ځای کول موږ د ژورې رښتیا هغه تـل ته بیایي چې د مسعود د استخدام او له ګوت نیونو او شننو څخه د هغه ساتنه دواړه د بریتانیا د (ایم آی ٦) یوه ماره ده.

بروس ګ. ریچارډسن

Download from: ketabton.com

د ګوند بنسټ ایښودنه

افغانستان د یوه ډیر اړین (مهم) ستراتیژیک ځای ځایګي څښتن دی. دغه هیواد له شوروي اتحاد سره اوږده پوله لري. په پخوا وختونو کې دغه پوله د وګړو پرمخ د تګ راتګ لپاره آزاده وه اوپه پایله کې ولسونه له یوبل سره ګډ شول.

په منځنۍ آسیا کې د بلشویک د رژیم له ټینګیدا وروسته ددغه آسانه او آزاده تګ راتګ مخه ونیول شوه او د نوي رژیم څرګند دښمنان دي ته اړ شول چې ګاونډی هېواد افغانستان ته کډه شي. د هغوی ټولیزه شمیره اوس څه ناڅه د ۷۵۰,۰۰۰ تاجیکانو، وزبکانو ، تورکمنانو او قرغیزیانو زوزات (نسل) جوړوي چې پلرونه يې د بلشویک د رژیم د ناتار له امله افغانستان ته راکډه شوي ول او اوس په افغانستان کې ژوند کوي.

افغانستان لومړنی هیواد وو چې په روسیه کې يې نوی رامنځ ته شوی رژیم په رسمیت وپیژانده او په دودیز ډول د روسیې یو ملګری هیواد بلل کیږي. ددغه هیواد د ژوندانه په ټولو اړخونو کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو اغیزې په پراخه ډول لېدل کېږي. د افغانستان هېڅ پاچا ان داؤود [37] د شمالي هیولا له خوښې او ګټې پرته ، د هېڅ ډول جدي ګام اوچتولو ته لاس پورې نه کړ.

خو کله چې داؤود د خپل ګوند بنسټ ایښودنې ته ملا را وتړله نو کي جي بي دغه ګام کمونیستانو ته د یوه جدي ګواښ په توګه ولېد. داسې انګیرل کېدله چې ګڼې داؤود به د ایران بیلګه تر لاس لاندې ونیسي او پر سیاسي ګوندونه به بندیزونه ولګوي. [چیکا] [38] د دولت پر هر ګام ژوره څارنه درلودله او له نورو هیوادونوسره د نیژدې اړیکو په راټینګولو کې يې خنډونه رامنځته کول. په ځانګړې توګه [چیکا] د ایران له هغه پلان سره مخالفت وښود چې په افغانستان کې د ریل لومړی پټلۍ جوړه کړي او هم يې د امریکا د هغه پلان مخه ونیوله چې غوښتل يې د او سپنې د ویلي کولو د بټۍ څو ځالګۍ جوړې کړي او هم يې د هغه پلان مخې ته سترې ډبرې کیښودلې چې د روغتونونو د جوړلو له لارې يې وګړو ته روغتیایي آسانتیاوې برابرولې.

[چیکا] په هیواد کې د پیاوړو اینجنټانو ځالګۍ درلودله او د هغوی له لارې د بیلابیلو سیاسي کړیو له اکر وکر (حالت) څخه په ټینګه خبره وه ، په ژوره توګه يې ځانته په سیاسي لړیوکې لاره موندله او په دې يې لاس بر وو چې د سیمه ییزو خدماتي څانګو له لارې خپلې هڅې پر بهرنیو د هدف وړ سازمانونو نیغې کړي او د ددغو سازمانونو پام له شوروي پالو کسانو څخه بل لوري ته را واړوي.

د کي جي بي یوشمیر ایجنټان د مارکسیسزم � لیننیسزم پلویان شول او یو شمیرېې د ارګانونو په مرسته په نړیوال کمونیست او کارګري غورځنګ کې فعال شول. له دغسې ایجنټانو څخه یو يې نور محمد تره کی [39] وو. هغه په ۱۹۵۱ ز کال کې ایجنټ شو او په کابل کې د کې جي بې د میشتې څانګې [40] له دغو غړیو سره په اړیکه کې وو :

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



سګادييف [41]، کوزولوف[42] ، فيدوسييف[43] ، سپيريدونوف [44]، کوسترومين [45]، کوزيريف[46] ، اې وي پيتروف[47] . له کار پوهيزه اړخه تره کی یو خبریال او لیکوال وو .

بل ایجنټ د(مريد)په پورَني (مستعار) نامه ببرک کارمل وو چې له " مخموی"[48] ، " اکبر" او " خوما" [49] سره یې یو ځای په ۱۹۵۷ زکال کې د پرچم (بيرغ) [50] په نوم د يوې لينينستي - کمونيستي ډلې بنسټ کښيښود. د ۱۹٦۲ ز کال په وروستيو کې ببرک او تره کي له يو بل سره وپيژندل شول. په هغه وخت کې تره کي په يوازې سر کار کاوه او هيڅ ملګري يې نه درلودل. له هغه وروسته حفيظ الله امين ور سره يو ځای شو او له هغه سره يې يوځای د خلق په نامه د يوې مارکسيستي ډلې بنسټ کښيښود. دغه دواړه ډلې سره يو ځای کړای شوی اوپه ۱۹٦۵ زکال کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند تري جوړ شو. د هغوی ټوله شميره له درې سوو تنو څخه پورته نه وه. له دريالس تـنو څخه جوړه يوه مرکزي کميټه او د پينځو تـنو يوه سياسي بيرو يې جوړه کړه. تره کی د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې لومړی سکرتراو ببرک يې مرستيال وټاکل شول. دغه يوه ځای کېدنه په ختـه او تومنه کې يوه ارګانيکي يوځای کېدنه نه وه. دواړو ډلو په هاغه لومړي سر کې د مسکو تابعيت او لارښوونو ته غاړه کښيښودله. د ببرک پلويان پرچميان او د تره کي خلقيان بلل کېدل .

تره کي د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې د نړيوالو اړيکو د څانګې له پلوه مسکو ته وبلل شو. هغه ته د نړيوالو اړيکو د مشر [باريس] پونومارييف [51] او د څانګې د نورو غړو له پلوه ښه راغلاست وويل شو .

هغه ته لارښوونه وشوه چې په خپل ګوند کې دې تر هغه مهاله په ډير ځير خپل کار سرته ورسوي چې د چارواکو له پلوه د ګوند د رسمي فعاليت په اړه ورته اجازه نه وي ورکړل شوي او په غير قانوني اکروکر(حالت) کې دې خپله ټوله هڅه د ګوند د ډيرو اړينو څانګو په جوړولورا ټوله کړي. همداشان هغه ته لارښوونه وشوه چې د يوه مخور رئـيس په نامه دې د يوې ورځپاڼې خپراوي ته ملا وتړي ، په دې مانا چې ځانته د ډوډۍ موندلو لاره ومومي ، او په دې توګه د چارواکو د سترګو په وړاندې کولای شي د خپل عايد سرچينه او لاره څرګنده کړي. د مسکوپه غونډو کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند پر پروګرام ، تګلارې ، قانون او مالي اړخونو خبرې وشوې. هغه د ستالين [52] له هغو لارښوونو سره هم آشنا کړای شو چې د اندونيزيا د کمونيست ګوند سکرتر جنرال ايديت [53] ته يې کړې وې.

تره کي په مسکو کې د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې پر فعالينو ښې اغيزې وشيندلې. هغه بـړرکی (جدي) او د خپل ګوند د مشرتابه د دريځ د پرمخ بيولو لپاره چمتو ښکاريده. تره کي د شوروي اتحاد مرکزي کميټې ته د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مشرتابه د يوه تن وزبک توکمي غړي [بادشي][54] [بدخشي �ژ] وړانديز وړاندې کړ چې په افغاني توركمنستان کې دې د [تم؟][ښايي � ستم وي �ژ] په ځانګړې توګه د وزبکو له ناخوښيو څخه په ګټه اخيستنې د دولت پر وړاندې وسله وال پاڅون ته لاس واچول شي. د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



مرکزي کمیټې ددغسې یوه ګام اوچتونه له بیړې ډک یو ګام و باله. وروسته تره کي د خپل مرستیال ببرک په اړه شک څرګند کړ او ټینګار یې وکړ چې ببرک د افغان دولت له څارګرۍ � ضد څانګې سره اړیکه لري. د تره کي شک ددغه حقیقت پر ستـنې ولاړ وو چې ببرک په ۱۹۵۲ زکال کې لومړنۍ سیاسي بندي وو چې خوشې شو.په کابل کې د شوروي څارګرې میشتې څانګې دغسې تورونه وغندل او څرګنده یې کړه چې دغسې ګنګوسې د [تره کي] د سیالانو د بې اعتباره کولولپاره را پارول کیږي او هڅه کیږي چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د لیکو په منځ کې د بې اعتبارۍ اوپر یو بل د نه ډاډ کولو چاپیریال رامنځته او ګوند د بیلتون له کړښې سره مخامخ کړي .

کله چې تره کی د ګوند د سکرترجنرال په توګه و ټاکل شو، کې جي بي د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند مرکزي کمیټې ته خبر ورکړ چې دغه څانګه به تره کي ته د خپلو ایجنټانو د لیږلو لړۍ ودَروي او زیاته یې کړه " که اکر وکر ډیر خراب شي او اړینه وګڼل شي نو په هاغه وخت کې به خپل پټ اینجټان ور ولیږي چې له تره کي سره اړیکه ټینګه کړي او ګوند ته به یې اړونده سیاسي مرسته ورکړي چې په دې توګه به کې جي بي په ډیر پام او احیتاط له هغه سره اړیکه ټینګه وساتي." د مرکزي کمیټې د نړیوالو اړیکو د څانګې مشر آی وي میلونوف کې جي بي ته په ځواب کې وویل چې سوسلوف [55]، پونیماریيف او اندروپوف [1] د کې جي بي لیک ولوست او د ۱۹٦٥ ز کال د فبرورۍ پر اتلسمه نېټه یې ومنله چې کې جي بي دې له تره کي سره د ګوند په اړه خپلې پټې اړیکې په وړاندیزشوي ډول ټینګې وساتي. تره کي ته د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د نړیوالو اړیکو د څانګې له پلوه وویل شول چې [ته] باید ووایي چې [ته] د افغان � شوروي د ملګرتابه د ټولنې او د شوروي د لیکوالانو له پلوه مسکو ته د سفر لپاره رابلل شوی یې. تره کي کله چې له سر وزیر میونداوال [56] سره ولېدل نو هغه ته یې وویل چې دولت دې له کینې اړخو څخه نه باید ویره ولري او غټه ویره له ښي لاسو او ارتجاعیونو څخه را کټیږي چې د واکمنۍ د نیولو موخه لري.

د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مالي لګښت د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې له پلوه ورکول کېده. ددغه ګوند د ورځپاڼي لګښت هم له همدغې لارې برابرېده.

د ۱۹٦٥ ز کال د اپریل په مباشت کې د خلق د ورځپاڼې خپرونې پیل شوې. په ۱۹٦٥ ز کال کې پینځوس زره افغانۍ ، تره کي ته په ولسي جرګه (ولسي شورى) کې د ټاکنو د کمپاین لپاره ورکړل شوې. تره کي [د شوروي له څارګرې�ژ] میشتې څانګې څخه وغوښتل چې هغه ته دې په ورځپاڼه کې د نظریاتو د لیکلو د څرنګوالي په اړه لارښوونه وشي.

له څارګرې میشتې څانګې سره د تره کي غونډې یا د یوه پټ مأمور په موټر کې تر سره کېدلې او یا به پټ مأمور تره کی په پټه خپل موټر کې خپل کور ته راووست او غونډه به هلته تر سره کېدله.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



هغه ته په مباشت کې د ۱۸۰ روبلو په اندازه پیسې چې د هغه وخت له څلورو زرو افغانیو سره برابرې وې د ډوډۍ د مدد معاش په توګه ورکول کېدلې.

د ۱۹٦٦ز کال د دسامبر په ۱۷ نېټه میلانوف او سپیرېدونوف [57] له تره کي سره د چال چلند او د ترلاس لاندې نیولو په تړاویوه غونډه ونیوله . هغه ته لارښوونه وشوه چې محرمیت دې په کلکه په پام کې ونیسي او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له مشرتابه سره دې کار دومره په پټه تر سره شي چې (دولتي) چارواکي دې یوازې او یوازې پر څو تـنو لکه تره کی او کارمل خبروي. همدارنګه که د ولت د ګوند لوړپوړي چارواکي وپیژني او یا ونیسي نو په بدل کې دې د ګوند نور لوړ پوړي غړي د هغوی د ځای نیونکو په توګه وروزي. تره کي ته باید وویل شي چې " د دواړو هېوادونو د اړیکو او په هیواد کې د روان اکر وکرپه پام کې نیولو سره دې د ژوند یوه لیبرال � دیموکراته منځلارې ژوند بنه غوره کړي چې په ترڅ کې یې د کیڼ لاسو فعالینو ملاتړتر څنګ ولري. په دې ډول به د ډیموکراتیک غورځنګ د پرمختګ او ودې لپاره بنسټ جوړ شي او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند چال چلند او عملي فعالیتونو به پرهمدغې ستـنې را ولاړ وي. د همدغې موخې د ترلاسه کولو لپاره اړینه بریښي چې د قانوني فعالیت د امکاناتو د ترلاسه کولو لپاره هم لاره هواره شي ، په ځانګړې توګه د پوهنتون د زده کوونکو او ځوانانو، سودا ګریزې او نورې ټولنې دې جوړې شي. تره کي ته باید وړاندیز وشي چې د خپل ګوند په کاري برخو پورې اړوند د میشتې څارګرې څانګې له لارې دې د (پروبلیمې میرای سوشیالیزما) [58] مجلې دې تر لاسه کړي. میلانوف زیاته کړه چې د ګوند د ورځپاڼې پروګرام ( خلق ) چې اوس پر مخ روان دی ، سم نه دی او بې ځایه دی. تره کی د ببرک پر وړاندې له ځانه غیر ضروري بې حوصلګي څرګندوي او بیړنۍ تشکیلاتي طرحې یې تر لاس لاندې نیولې دي. میلانوف ، سپریدونوف ته ورغبرګه کړه چې یو شمیر نوښتونه دې تر لاس لاندې ونیسي او تره کي ته دې د هغه له شخصي غوښتنو ، نظریو اود هیلو له شتون سره سره، د سلا او مشورو له ورکولو څخه ویره ونه لري. تره کي په خپل وار هغه ته د کتابونو ، د ایران د توده [59] د ګوند او نورو په لیږلو کې د ځنډ له کبله له مسکوه خپله ناخوښي څرګنده کړه. " که شوروي ملګري داسي ګومان کوي چې په افغانستان کې لا تر اوسه د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په شان ګوند نه دی پوخ شوی چې په بنسټیز دول رامنځته شي او کار وکړي ، نو ګوند دې منحله او زه به بهر ته لکه هندوستان ، سوریې یا سایلون ته ولاړ سم او ادبي کارونه به پرمخ یوسم ".

خو کله چې تره کي د ۱۹٦۷ ز کال د جنوري په مباشت کې د [پروبلیم میرای سوشیالیزما] د مجلې مصحح ته څارګریز عملیاتي لیک وسپاره نومورې وویل : له چې دې چې د کمونیست او د کارګرانو د ګوند له خپریدونکې ارګان سره یې اړیکه ټینګه شوې نو دا اړیکه په حقیقت کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په رسمیت پیژندلو ته نغوته کوي . میشتې څارګریزې څانګې [60] له تره کي څخه غوښتنه وکړه چې د جاسوسۍ یو شمیر فعالیتونه دې پلي کړي. هغه د هېواد د روان اکروکر او د [پښتو] [61]، د افغان پوځ او دولت په اړه مالومات ورکړل .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



تره کي کي جي بي ته د ځانګړو کسانو په اړوند مالومات ورکول او د هغه په مرسته نوي ایجنټان وګومارل شول. د هغه له لارې د ۱۹٦۷ ز کال د فبروري د مياشتې پر۲۱ نېټه په کابل کې د چين د سفارت د ودانۍ مخې ته د چين د بيلتون پاروونکو کړونو په غبرګون کې لاريون تر سره شو ، د چين سفارت ته د کار ګرانو له پلوه د ګوتـنيونو او احتجاج د ټيلفونونو لړۍ او د چين � افغان د دوستانوله اړخه د خښم لېکونو د لیږلو سمبالول تر لاس لاندې ونيول شول. تره کي په افغانستان کې د هغه د " چينايي " ملګرو په غوښتنې د فبروري د مياشتې په ۲۲ او ۲۳ نېټې په خپله د چين سفارت ته تيلفون وکړ او خپله خواشينې او خښم يې ور څرګند کړ. تره کي په همدغې محتوی او متن په خپل کينې لاس په پارسي ژبه ليکونه وليکل. د دسامبر د مياشتې په ۲۳ نېټه د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند غړی ډاکټر صالح [62] په خپل بايسکل د چين د سفارت د انګړ کټارې ته نيژدې ورغی او نوموړې لېکونه يې ور وشيندل .

تره کي او ببرک په هېڅ ډول دا وړتيا و نه موندله چې په ګوند پورې اړوند چارې په ګډه او يو ځای پرمخ يوسي. ببرک پر تره کي د بېې د اخيستـلو ، په امريکايي بانکونو کې د بانکي حسابونو په لرلو ، د څلورو موټرو او په پښتو [پښتـني- ژ] بانک کې د څلور لکو افغانيو د لرلوتور لګاوه. ميشتې څارګرې ځانګې هماغسې چې مخکې د ببرک ملا ورتړلې وه دا ځل يې له تره کي څخه ملاتړ وکړ. څارګرې ځانګې تره کي ته په ښه سترګه کتل او هغه يې د شوروي سوسياليستي جمهوريتونو رښتونی او د زړه له کومې پاليالە ملګرى ګاڼه چې له هغې سره يې په وجدان او کارپيژندنې همکارې وکړه او د امريکا په سفارت کې يې ټولې ورسپارل شوې دندې د محرميت د ټولو اصولو په پام کې نيولو په ځير تر سره کړې. خو تره کي د يوه ځانګړي سړي په توګه ، پيچلی او له اړوپيچه (تنقاضه) ډک شخصيت درلود. هغه په بوږنونکې توګه منځـتـشی سړی وو، ډيرې وختونه به د هغه په اړه ډيرې منفي ټوکې جوړېدلې او داسې ښکارېدله چې هغه ته ډيرې سترګې اوښتې وې. دغې ځانګړتيا ته هغه وخت د خلکوپام را واوښت چې نوموړې شوروي اتحاد ته سفر وکړ. کېدای شي د تره کي دغه ځانګړتيا يو له هغو لاملونو څخه وي چې د نوموړې آس د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مشرتابه د نورو غړوله آسونو لکه ببرک سره په يوې پوندې کې نه څرېدل او پايله يې دا شوه چې د ۱۹٦۷ ز کال د آګست په مياشت کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په دوه وو لويو برخو وويشل شو. ببرک چې له زده کړو څخه برخمن سړی ښکارېده هڅه وکړه چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په عملي کار کې د نرمښت له چلونو او تاکتيکونو څخه کار واخلي خو " نور" [ تره کي] په خپل چال چلند کې څرګنده کړه چې مسکو د هغه تر شا ولاړ دی او د خپلې نيول شوې لارې او کړنوپه پلې کولو يې ټينګار وکړ. تره کی هغه مهال ډير انديښمن او زړه تـنګی شو کله چې په ۱۹٦۸ز کال کې په مسکو کې د کمونيستو ملګرو ګوندونو د راتـلونکي په اړه د کنفرانس خبر خپر خپور شو او پريکړه وشوه چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند دې را ونه بلل شي. نورمحمد په ډيره ترخه ژبه پرمسکو نيوکه وکړه او ټينګار يې وکړ چې له يوې خوا شورويان هغه ته د

Download from: ketabton.com

يوه کمونيست په سترګه نه ګوري او له بلې خوا په افغانستان کې هغه ته هر څوک پرته له استـثـنا کمونيست وايي. هغه وانګيرله چې کرملين د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند سپکاوی کړی دی .

د ۱۹۶۸ز کال په سپتامبر کې مرکز[63] له ميشتې ځانګې وغوښتل چې تره کی دې د عملياتي چلونو ، تاکتيکونو او وسايلو له لارې و ازمويي. د ۱۹۷۰ ز کال د اکتوبر د مياشتې په لومړۍ نېټه تره کي برژنيف [64] ته يو لېک ولېږه او له هغه يې " افغانستان ته د اقتصادي مرستو غوښتنه وکړه او ټينګار يې کړی وو چې په مصرفي توکو لکه بورې او پټرولو دې کريډت ليرې کړای شي. هغه وويلي ول چې موږ داسې مرستې نه غواړو چې د کارګرې پاړکې (طبقې) د پياوړې کېدلو مخه ونيسي خود موټر په ډول د لوکسو وسايلو ليږنه دې پر هيواد بنده شي ځکه چې د هېواد د واکمنو له پلوه کارَول کيږي. " هغه په خپل لېک کې وړاندې ځي او ليکي: " د ملګرو ګوندونو په کنفرانس کې و منل شوه چې د سوسياليست کمپ مرستې دې د نړۍ په هرګوټ کې ډيموکراتيکو او پانګوالۍ ضد ځواکونو ته ورکړل شي. هيله لرم چې تاسو په افغانستان کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند فعاليتونو ته چې مارکسيسزم- لينينيزم ته پاليااه او د پانګوالۍ او شاتګ پالنې (ارتجاع) پر وړاندې جګړه کوي ، را واړوئ. د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د خپل فعاليت له پيله په افغانستان کې د مارکسيسزم � لينينيزم د ايډيالوژۍ خپرول تر لاس لاندې نيولي دي .

د ۱۹۷۲ ز کال د اکتوبر د مياشتې پر ۱۷ نېټې تره کي ځارګرې مېشتې ځانګې ته خبرداری ورکړ چې دا ؤود د کودتا د ترسره کولو تابيا نيولې ده. د ۱۹۷۳ ز کال د مې په مياشت کې [اظهرعبدالصمد] [عبدالصمد اظهر � ژ ] [65] چې جاسوسي نوم يې [ فتح خان وو] مېشتې ځانګې ته ګزارش ورکړ چې داؤود کودتا ته چمتو او د کودتا په اړه يې ډيرځير او کره مالومات ورکړل. د همدغه کال د جولای په مياشت کې تره کي په ګوتـخـنډوکې ژبې ځرګنده کړه چې که شوروي ملګرو پنځه يا شپږ کاله مخکې د خلقي غړو مخه نه وای نيولای چې په پوځ کې کار وکړي نو ټول هغه افسران چې نن په کودتا کې ښکېل دي ښايي د خلق د ډلې پاخه غړي وای. اوس يوازې په پوځ کې هغه افسران دي چې [خلق] ته ليوالتيا لري. ځارګرې ځانګې تره کي ته لارښوونه وکړه چې خپل پالياله او صادق ملګري دې د نوي دولت د لوړو څوکيو نيولو ته را وهڅوي. په ۱۹۷۴ ز کال کې هغه ته د پخوا په شان پينځوس زره افغانۍ ورکول کيدلې .

د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په دې بريالی نه شو چې د خلق او پرچم تر منځ پرسياليو د پای ټکی کښيږدي ، په يو موټي ډول ځان سمبال او په يوه نوم راټول شي. ځارګرې ځانګې د ډلو ترمنځ دغه ناخوالي يوازې د مشرتابه او د شوروي له پلوه د پيژندلو لپاره تعريف کړه او ځرګنده يې کړه چې د ګوندي کړيوترمنځ دغه بيلتون هېڅ ډول تړاو له ايډيالوژيکي تضادونو سره نه لري. تره کی د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند مرکزي کميټې غيرقاطع دريځ ته هک پک پاتې شو.هغه وويل چې که شوروي اتحاد ګومان کوي چې ببرک رښتيا وايي نو تاسو ماته زما غلطي را ځرګنده کړئ. تره کی او ببرک نه بايد د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو لپاره کومه ستونزه وي. پخه او

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کره خبره دا ده چې په افغانستان کې ډیموکراتیک ځواکونه مخ په ودې دي. خو دغه ځواکونه د شوروي اتحاد د کمونیست گوند هغې کڅ مټ مرستې ته اړتیا لري چې په نورو هیوادونو کې یې کمونیستو او ډیموکراتیکو گوندونو ته ورکوي. د شوروي اتحاد د کمونیست گوند له مادي او معنوي مرستې پرته به د افغانستان د کمونیستانو لپاره په نا باوره توگه له کړاوونو ډکه وي چې خپل فعالیتونه پرمخ یوسي حال دا چې شاهي کورنۍ په ټگۍ او چلوټۍ هڅه کوي چې زموږ گوند را دړې وړې کړي. " تره کي د [نوي ژوند ] تر نامه لاندې یو کتاب ولیکه. دا کتاب د [نظر زاده] تر پورني یا مستعار نامه لاندې خپور شو. [د تره د پلار نوم نظر محمد وو � ژ] خو د شوروي اتحاد د کمونیست گوند مرکزي کمیټې میشتې څارگرې څانگې ته لارښوونه وکړه چې په افغانستان کې د جمهوریت له رامنځته کېدلو وروسته په کیڼ غورځنگ کې د ببرک دریځ او واک مخ په ودې دی نو ښه به دا وي چې دغه کتاب دې په هیواد کې دننه خپور نه شي ځکه دا به د ببرک له ناګڼلي (نامطلوبه) غبرگون سره مخامخ شي .

مرکز خپله نظریه په دې را ټوله کړه چې له تره کي او ببرک سره کار وکړي او د ۱۹۷۴ز کال د اکتوبر په ۲۵ نېټه یې دواړو ته د مېشتې څارگرې څانگې له پلوه یو عملیاتي لېک [66] ولېږه. د لېک غټ ټکي دا دي : " مشېتې څانگې ته لارښوونه کیږي چې له [مرید] [ببرک] او [نور] [تره کي] سره د خپلو عادي غونډو او خبرو اترو په ترځ کې پرته له دې چې له مسکو څخه د لارښوونو نوم ورته وریاد کړئ په ډیر ځیر ، هوښیارۍ اود ملگرتوب پا جامو کې ورته وواياست چې زموږ [میشتې څانگې �ژ] د موافقې له اخیستلو پرته هېڅ ډول گام پورته نه کړئ ځکه دښمنان به ستاسو د ډلو په منځ کې ستاسو خپل سرى گام د یوې پلمې او یا د روغې جوړې د یوې لارې په توگه وکارَوي. [مرید] او [نور] ته دې یو ځل بیا خبرداری ورکړل شي چې پر یو بل دې د برید له کولو څخه ځانونه لیرې و ساتي او پر یو بل دې د جمهوریت ضد فعالیتونو د ترسره کولو تورونه نه لگوي ځکه دا د ارتجاعي ځواکونو په لاس کې د یوې لوبې په توگه لویږي او دا به په خپله په افغانستان کې د ډیموکراتیک غورځنگ د لړۍ په ټپه دربېدنې او را نړونې ته لاره پرانیزي. موږ له تاسو غواړو چې موږ ته د تیلگرام د را لیږلو له لارې خبر راکړئ چې تاسو له [مرید] او [نور] سره غونډې و نیولې او خبرې اترې مو ورسره وکړئ ".

د لومړۍ برخې پای

ژباړه : رحمت آريا

دسامبر ۲۰۰۸

[1]دمصحح یادښت: یوري ولادیمیرویچ اندروپوف له ۱۹٦۷ تر ۱۹۸۲ ز کلونوپورې کې جي بي مشر وو او بیا د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې د ستر سکرترجنرال دریځ ته لوړ شو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[1] Schopenhauer

]نامتوجرمن فیلسوف ۱۷۸۸ د فبرورۍ له ۲۲ ، د۱۸٦۰ د سپتامبر تر ۲۱ پورې. ژ[

[2] Vasiliy Mitrokhin

[3] KGB

[4] Estonia

]د اروپا شمال ته د بالقان په سیمه کې چې د [ایستي] یا[ایستي وابریک] په نامه هم پیژندل کېږي د فنلند د خلیج په شمال کې د فنلند یو ګاونډی هیواد دی. په ۱۹۴۴ کال کې روسانو د هغه هیواد ونیو خو د ۱۹۹۱ کال د آګست په ۲۰ یې خپله خپلواکي اعلان کړه. د همدغه کال د سپتامبر په ۱۷ د اروپايي ټولنې غړی ومنل شو او بیا د ۲۰۰۴ زکال د مې د مياشتې له لومړۍ را ورسته د ناټو د ټلوالې غړی هم شو- ژ[

[5] Tallinn

]جرمنيانو ، سویډنیانو او ډنمارکیانو [ریوال] بللی او پولنډیانو [ریول] بللی چې د استونیا پلازمېنه او یو له سترو ښارونو څخه دی �ژ[

[6] containers

[7] The Sword and the Shield: The Mitrokhin Archive and the Secret History of the KGB

[8] Christopher Andrew

[9] Cold War International History Project

[10] Woodrow Wilson International Center for Scholars, Washington, D.C

[11] scorched earth policy

[12] The KGB in Afghanistan, Working Paper No. 40

[13] Woodrow Wilson Center

[14] active measures

[15] black operations

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[16] Directorate S of the First Chief Directorate (FCD) Of KGB

[17] The KGB in Afghanistan, Working Paper No. 40, Vasiliy Mitrokhin, 2002, pp.142-143

[18] KGB/KhAD

[19] Afghanistan, the Great Game Revisited, 1990, edited by Rosanne Klass, p. 421

[20] Balashikha

)Балашихаبالاشيخا-

د روسيې د فدراسيون يو ولايت دی چې د مسکو د ختيځ په١٦ کيلومتری کې د د سيند پرغاړه پروت دی - ژباړونکی Pekh�rka River)مسکوپيخورکا

[21] Eight Department, Colonel V. Kikot,

[22] Afghanistan the First Five Years of Soviet Occupation, J. Bruce Amstutz, 1986, pp. 290-291

[23] The KGB in Afghanistan, Working Paper No. 40, Vasiliy Mitrokhin, 2002, p.142

[24] Afghanistan, Ending the Reign of Soviet terror, Bruce Richardson, 1998, pp. 25-29: Tragedia I doblest Afgana, Aleksandr Liakhovskii, 2004, 630-654:

[25] Afghanistan, Political Frailty and External Interference, Dr. Nabi Misdaq, 2006, p.212).

[26] divide et impera

[27] The Main Enemy, The Inside Story of the CIA�s Showdown with the KGB, Milt Bearden and James Risen, 2003, p. 236

[28] Committee of Patriotic Refugees

[29] The KGB in Afghanistan, Vasiliy Mitrokhin, 2002, pp. 142-143

[30] brilliant guerrilla strategist

[31] MI6

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[32] Sandy Gall

[33] ITN

Independent Television News

]خپلواکه تلويزيون خبرونه: د انګلستان يوه تلويزيوني ځالګۍ ده دغه ځالګۍ څلور تلويزيوني څانګې اوپه انګلستان او آيرلند کې د (آی ان آر) له لارې ۲۵۰ سوداګريزې راډيويي شبکې لري. دغه ځالګې په پينګک،برلين،بروسلز،اسرائيلو، جوهانسبرګ، نيويورک، پاريس، سدني او واشنګټن ډی سي کې خپلې ځانګې لري �ژباړونکی [

[34] the Tito of Afghanistan

[35] Afghanistan, Political Frailty and External Interference, Dr. Nabi Misdaq, 2006, p.330n, no. 16

[36] Charlie Wilson�s War, George Crile, 2003, p. 198

[37]د لېکوال يادښت: سردار محمد داؤود په ۱۹۷۳ ز کال کې واک تر لاسه کړ

[38] Cheka

چيکا: د شوروي اتحاد لومړنی څارګر مرکز چې وروسته کې جي بي د هغه ځای ناستې شوه

[39]د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د خلق د څانګې غړی ، د غوايي له کودتا وروسته ولسمشر او د انقلابي شورى مشر او د افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت سر وزير. د ۱۹۷۹ز کال د اکتوبر پر ۹ نهمه نېټه اعدام شو.

[40]د لېکوال يادښت : څارګره ميشته څانګه د څارګري خدماتو له څانګو څخه يوه څانګه ده چې په بهرنيو هيوادونو کې ميشته وي او په ژوره توګه يې خپله بنه او مخ اړولی وي او څوک پرې نه پوهيږي. دغه څانګه هم له قانوني او هم له غير قانوني اړخونو څارګري خدمات پرمخ بيايي ، په دې مانا چې يا څارګر مامورين اوايجنټان نه شي کولای خپله اصلي بنه يا تابعيت پټ کړي او د څارګريزو دندو په اړوند په براالا د خپل هيواد د استازيتوب يو رسمي دنده په غاړه لري او يادا چې څارګر او ايجنټان په بهرنيو هېوادونو کې د جعلي لاسوندونو او کاغذونو په کارولو څارګرۍ دندې پرمخ بيايي. څارګري ميشته څانګه د خپل قانون او مقرارتو پربنسټ خپله دنده تره سره کوي. د ميشتې څانګې غړي خپل ځانګړی چال چلند او اخلاق لري. دغې څانګې ته د خپل متبوع دولت له پلوه پراخه سياسي واک په لاس ورکړل شوی دی. دغسې ميشتې څانګې د پټو لارو چارو او ميتودنو په کارولو چې د هغه هېواد قانون منع

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کړي دي د تر هدف لاندې هېواد په دولت کې په ډېرو اړينو او مهمو څانګو کې دننه ، په پټوګړو کې ښکېلې وي .

[41] Sagadiev

[42] Kozlov

[43] Fedoseev

[44] Spiridonov

[45] Kostromin

[46] Kozyrev

[47] A.V.Petrov

[48]د مصحح یادښت کرښه ونه پیژندل شوه

[49]دغه دریواړه نومونه په لاسوند کې په همدې ډول لیکل شوي دي (ژ)

[50]د افغانستان دخلق ډیموکرایتک ګوند د یوې څانګې نوم دی چې د نورمحمد تره کي پر وړاندې یې د ببرک کارمل ملاتړ کاوه. دغه نوم د پرچم په نامه یوې ورځپاڼې پورې اړه لري چې بنسټ یې په ۱۹۶۸ زکال کې کښېښودل شو او د سلیمان لایق له پلوه خپرېده.

[51] [Boris] Ponomarev

[52]د لیکوال یادښت :د ستالین نومیالیتوب له نومینکلاتورا[ د شوروي اتحاد او ختیځ بلاک د ټلوالې په منځ کې د هغو کسانو نومونه چې کلیدي اداري دریځونه یې درلودل �ژ] سره په تړاو کې تاوان نه وو لېدلی.خروسچیف یوازې د سپڅیلتیا شپول د ګرګر(مستبد) له مخه را پاک کړ اوپه خپلو کړونو یې په حقیقت کې هغه یې د خپل قبر له آرامځې را وایست. هغه د کرملین دیوال ته نیږدې د مرکزي مړیستون په څلورځنډېزې کې د جرم نورو شریکانو ته نیږدې ښخ شو. د ګوند په کانګرس کې له ګوند څخه د ستالین شننه او اخیستنه یوازې د ستالین پر را شخصیت را څرخېدله نه په ټولیز ډول پر ستالینیزم ؛ داسې قوانین او سیستم را جوړ شو چې په فکري ګروهنه کې یې د جرړو په څغلولو وده ومونده. د نومنکلاتور په نامه د زبیښاک ګرو نوې ډله رامنځته شوه. بلشویکي او چیکي څاروي خویه لوټماران ډېر سرسخته ول او د واک په راخپلولو او نیولو کې یې ډېره وسه درلودله او د بې دفاع لګښتونو بې ساري استادان ول.د هغوی جنایتکاري ټینګه ، ثابته او په دوی په پورې تړلې ځانګړې ځانګړتیا درلودله چې دغه ناروغي نن د نوي خو د هغوی له پلوه د غوره شوي نسل زړه ته ور القاح کیږي. ستالین په ډېرې هوښیارۍ په لومړي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



سر کې دین او دولتي ځواک له یو بل سره یو ځای کړ. دیني ملایان ، څوروونکي ، ستایونکي ، اټکل کوونکي (پیشگویي کوونکي) ،شکنجه ورکوونکي ،ډمان ، ټوکیان ، بدمعاشان او نورکسان چې مختلفې ګروهنې یې درلودلې لکه ړانده ایمان لرونکي او د دین ته پالیالې ډلې ټول په یوې لیکه کې په را څرګندېدا شول. هغوی ته د لینن [ د نړی د ستر شیطان] د روڼ اندو نوم ورکړ شو، کټ مټ د سکاتلندي [فري میسن][ � پټه نړیواله ډله چې د نړی په نیواک کې یوبل ته امرونه او لارښوونې ورکوي - ژ] د ډلې په شان. اوس له دغو ډلو څخه یوازې د [ژوګاشویلي ] د آرشیف دوسیې پاتې دي او بس. د دوسیو ټول محتویات له منځه وړل شوي دي. شک اوشوپیان نشته چې ددغو توکو د له منځه وړلو لپاره ښه دلایل ول. نومنکلاتوران د دیکتاتور اړیکو ته درناوی کوي. له انګلستان څخه د [خدای د ستاینو-هَلـَلویا] د غرړاتګ نه دی هیر شوی. دغه [هَلـَلویا] کټ مټ د هغې مرغې بچی ته ورته وه چې په خپلې هګۍ کې خو د بلې مرغې په ځاله کې وي ، ښایي خدای هم د همدغسې یوه دولت د ساتلو اوپایښت لپاره ، هَلـَلویاوې زموږ په خولو کې وچي کړې او هَلـَلویا د ستایونکو له خولو څخه د پردی مرغی په شان والوتله. دغه ډلې کټ مټ د چرړه چه مارې سرزورې هرځایي ښځې په شان وې چې یو بازاري میړه یې ځانته را وغواړي ، نومنکلاتوران هم خپل خاوند ته را وګرځیدل له هغه یې په موبل او فرنیچرپوښل ښایسته کور تر لاسه کړ، له هغه یې مینه ، موټړ او موټړوان تر لاسه کړ. په همداسې یوه وخت کې دوه تنه سرتیري چې په افغانستان کې ژوندي نیول شوي ول له انګلستانه بیرته خپلې ډلې ته وګرځېدل. د همدغی مرغی د پښو خاپ د شمال په یوې برخې کې ورک شو. کله چې دغه کوکو یا د چنچنې بچی د شوروي د جنت په ځاله کې بیرته میشته شوله نو د هرځایي مور سراښه تنده یې د پانګوالی سوځېدونکي دوزخ ته زیاته شوه. هغه را وخوځېدله. د همدغې مرغې له هګۍ څخه زیږېدلې دغه بچی نوره یوه عادي هیوادواله نه وه هغه د یوه لوی باندیست او بدمعاش لور وه ، هغه د یوه داړه مار لور وه هغه د " ویښتانو والا " او د " سر خیریلي" لوټمار او بدمعاش لور وه د هغې پر خولې د [واینوویچ] د کوڅه ګردو ترمینالوژي وه چې خپل مرشد یې په درښت یاداوو. [ ولادیمیر واینوویچ د نومنکلاتورانو " د ویښتانو پر بنسټ " د یو په بل پسې ځای نیوونکو مشرانو د نومونو لړ لیک دی : لینن ، ستالین ، خروشچییف ، برژنیف ، اندروپوف ، چرننیکو اوګرباچف]

[53] Aidit

[54]د لیکوال یادښت : ښایي د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې اصلي غړي محمد طاهربدخشي وي چې په ۱۹۶۸ زکال کې یې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوندغړیتوب پریښود او د [ستم ملي] د بنسټ ډېره یې کښېښودله، دا ډله په شمال کې میشته دپښتنو ضد یوه مارکسیستي ډله ده. د ۱۹۷۸ز کال په دوبي کې بدخشی ونیول شو او د ۱۹۷۹ زکال د سپتامبر په ۱۷ نېټه اعدام شو.

[55]د مصحح یادښت : میخائـیل اندریوویچ سوسلوف د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې د سیاسي بیرو مخکښ غړی

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[56]د مصحح يادښت : محمد هاشم ميوندوال له ۱۹٦٥ تر ۱۹٦۷ ز کلونو پورې د سروزير په توګه دنده تر سره کړه .

هغه په ۱۹٥٥ ز کال کې د بهرنيو چارو د وزير د مرستيال په توګه دند او په ۱۹٦٥ کې د بريتانيا سفير وو.له

۱۹٥۷ تر ۱۹٥۸ پورې د پاکستان سفير ، له ۱۹٥۸ تر ۱۹٦۳ پورې د امريکا په متحده ايالاتو کې سفيراو بيا په ۱۹٦۳ کال د پاکستان سفير وو. هغه د داؤود په رژيم کې بندي او په زندان کې ووژل شوه.

[57]د مصحح يادښت لېک: واضح نه شو

[58] Problemy Mira i Sotsialisma

[59]د ايران کمونيست ګوند

[60]د لېکوال يادښت : د قانوني ميشتې خارګرې څانګې دعملياتي کارمندانو ډله ، د ميشتې څانګې له مشر، د هغه له مرستيالان او اسيستانتانو ، يوه امنيتي مأمور اود ډلې يو شمير نورو غړو څخه جوړه ده چې د ايجنټانو عملياتي دندې پرمخ بيايي. عملياتي کارمند د خارګري خدماتو هغه غړی دی چې نيغ په نيغه په جاسوسي چارو کې ښکيل دی ، هغه د نورو مخبرانو او جاسوسانو د کارونو د سمبالولو چارې پر مخ بيايي ، جاسوسي مالومات را ټولوي او د اينجنټانو عملياتي اقدامات پلي کوي. د بشپړ خاګريز کار د تر سره کولو لپاره عملياتي اقدامات بايد طرح او پټ فعاليتونه بايد د يوه يا د نورو په کار کې ښکيلو خارګري خدماتي غړو له پلوه منل شوی وي ، د اړتيا په وخت کې ايجنټان ،تخنيکي عملياتي کارمندان ، اړوند څواکونه ټول، موخې د ژر رسيدلو وسايلوپه کار لويږي.

[61]د مصحح يادښت : پښتو د افغانستان له ملي ژبو څخه يوه ژبه ده چې د افغانستان په سويل او ختيځ کې مېشت وګړي او توکمونه پرې خبرې کوي. په افغانستان کې د پښتو ژبې د ويونکو لوی ښارونه کابل او کندهار دي. اټکل شوی دی چې په افغانستان کې د پښتنو شميره نهه ميليونه ده

[62]د مصحح يادښت : روښانه نه شوه .

[63]د لېکوال يادښت : مرکز هغه ګروينه يا اصطلاح ده چې د خارګرې څانګې مرکزي کارکوونکو په اړه کارَول کېدله

[64]د مصحح يادښت: ليونيد ايليچ برژنييف ، د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې لومړی سرکتر ۱۹٦۴ تر ۱۹۸۲ پورې

[65]د مصحح يادددښت: ويل کيږي چې عبدالصمد اظهر ، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د پرچم د ډلې غړي، داؤود و واژه. نوموړی په ۱۹۷۹ زکال کې د امين د دولت له پلوه ونيول شو او د ۱۹۸۰ ز کال د جنوري تر

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



مېاشتې پورې په زندان کې وساتل شو او په همدغه کال کې د جنورې په مېاشت کې د څارندوی (پولیس) بولندوی و ټاکل شو او د مرکزي کمیټې علی البدل غړی شو. بیا په کیوبا او هند کې د سفیر په توګه و ټاکل شو او په ۱۹۸۶ ز کال کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې اصلي غړی شو. هغه په ۱۹۸۹ ز کال کې د یوګوسلاویا سفیر و ټاکل شو او په ۱۹۹۰ زکال کې یې پناه وغوښتله.

[66]د لیکوال یادښت: عملیاتي لیک هغه لیک دی چې له مرکزیا د میشتې څارګرې څانګې له پلوه د جاسوسي کارونو په ترڅ کې د عملیاتي او یا سمبالولوپه موخې جاسوس ته ور لیږل کیږي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



## د غوایي کودتا

د مسکو د لارښوونو پر بنسټ پرکال ۱۹۷۷ز ، د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د مرکزي کمیټې د هر غړي او د ښاري او ولایتي سازمانونو د هرسکرتر لپاره پټ ځای ناستي و ټاکل شول ، ورزول شول او ومنل شول. دا یو احتیاطي گام ووچې که مشر گوندي "کارگران" ناڅاپه و نیول شي او یا وټکول شي نو نوي کسان به یې تشه ور ډکه کړي. په همدې ترڅ کې یوبل تاکتیک په کار ولوید او گوندي چارواکو ته غلط مالومات ورکړل شول ؛ موخه دا وه چې د نویو گوندي مشرانوله ټاکلو وروسته ډنډورې خپرې او د گوند غړي دا گنگوسې ومني چې گنې د خلق ډلې " خپله ځان منحله کړی دئ"

تره کي ته د شوروي اتحاد د کمونیست گوند د مرکزي کمیټې د نړیوالو اړیکو د څانگې له پلوه په پرله پسې ډول پیسې ورکول کیدلې چې د افغانستان د خلق ډیموکرایتک گوند د مرکزي کمیټې نورو غړو ته څرگند ه نه وه. سره له دې چې امین د تره کي ډیر نیږدې ملگری او په بشپړ ډول ورته د ډاډ وړسړی وو خو بیا هم امین د پیسو د ورکړی له عملیاتو خبر نه وو. تره کي ته د ۱۹۷۷ز کال د مارچ په ۱۵ دیرش زره افغانۍ او ورپسې د مې د مېاشتې په ۲۵ نیټه دیرش زره او دوه سوه څلویښت افغانۍ ورکړل شوې.

[په ۱۹۷۵ ز کال کې] داؤود د ملي انقلاب د گوند بنسټ [کښیښود] او پرنورو ټولو گوندونو یې بندیز ولگاوه. [په کابل کې] میشتې څارگرې څانگې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک مشرانو ته لارښوونه وکړه چې د داؤود گوند ته دې خپل کسان ور ننباسي او د همدغه گوند د کړیو له منځه دې ورانکارې چارې ترسره کړي. تره کي ته لارښوونه وشوه چې په ډیر په ځیر کار وکړي او د مرکزي کمیټې له نورو غړو سره دې د غونډو له نیولو څخه په کلکه ډډه وکړي.

د ۱۹۷۸ز کال د اپریل د مېاشتې په ۲۵ نېټه یو شمیر گوندي چارواکي لکه تره کي ، ببرک ، شاه ولي او څو تنه نور ونیول شول. خو گوند لا له مخکې پر ځان ډاډه وو. د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند یوه پټه او ځمکلاندې بیړنۍ غونډه را وبلله. پریکړه وشوه چې د اپریل د مېاشتې په ۲۷ نېټه دې د سهار له پلوه کودتا پیل او دولتي واکمني دې را وپرځول شي. د کودتا د سمبالولو او تنظیم چارې د گوند غیرقانوني مرستیال ح. امین [حفیظ الله امین � ژ] ، [فیجیر] [1] ته وسپارل شوې. همدارنگه نوموړي باید د تدارکاتي چارو همغږي هم ترلاس لاندې نیولې واي. د کودتا ستري او غټې چارې څلورمو او پینځلمسو زغره والو لیواگانو او کوماندو ځواکونو ته وسپارل شوې چې د کابل ښار او په ښار کې ټولې دولتي ودانۍ ونیسي. ددغو لیوا گانو مرسته د هوایي او هوایي مدافعې د ځواکونو له پلوه کېدله. [ ډگروال عبد]القادر[2] د هوایي او هوایي مدافعې ځواکونو مشر او د هغه مرستیال نظر محمد ، د ټولو پوځي ځواکونو بولنده په غاړه درلودله .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



ګلابزوی [جاسوسي نوم يې " مامد" محمد -ژ] [3] او م. رفيع [جاسوسي نوم يې " نيروز � ښايي نوروز وي-ژ] [4] دواړو په بيـړه د کې جي بي ميشته ځارګره څانګه د راپيښېدونکي فوق العاده حالت په اړه خبره کړه. د اپريل په ٢٦ نېټې ميشتې ځارګرې څانګې د اکسپرس ټيلګرام له لارې مرکز ته خبرور کړ. سفير پوزانوف [5] سياسي بيرو خبره او ځرګنده يې کړه چې " د افغانستان خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې په غړو کې د شته خپلسرۍ له امله ددې ويرې اټکل کيږي چې ښايي يو شمير ګوندي مشران له حده وَتـلو اقداماتو ته لاس واچوي. ښايي هغوی د اوسني دولت د خاصوجاسوسي ارګانونو[6] د پارَوونکو ايجنټانو له پلوه پارَول شوي وي. زموږ په اند د هيواد په اوسني اکر وکر کې ددغسې له حده وتلو اقداماتو پايلي ښايي د پرمختلونکې کارګري ډيموکراتيکې لړې را پرځېدنه و زيږوي." دغه ټيليګرامونه په بيړه او د ډيرلوړ لومړيتوب په ورکولو مرکز ته وليږل شول ".

کې جي بي [مرکز] بيرته په هماغه ورځ ځواب ورکړ او په ځواب کې يې د نورو خبرو ترځنګ وويل چې : دغه شونيتوب له پامه نه شو غورځولای چې ښايي موساد [7] د خلق ډيموکراتيک ګوند يوځي څانګه ددولت پر وړاندې پارَولې وي ترڅو په هيواد کې يوه سياسي چاودنه رامنځته کړي".

داسې ښکاري چې نه ميشتې ځارګرې څانګې، نه سفارت او د نه مسکو مشرتابه په هيواد کې د روان اکر وکر په اړه بشپړ مالومات نه درلودل ، له حالاتو څخه يې ناسمه اخيستـنه کړې وه او ګوماني يې کاوه چې د کودتا هڅه به بريالۍ نه شي .

په همدې ترڅ کې په افغانستان کې د پيښو لړۍ ډيره ګړندۍ پرمخ تلله. د داؤود دولت و نړيد او ولسمشر ووژل شو. د انقلابي شورى مشرتوب امين ، ډګروال [اوس بريد جنرال] عبدالقادر اود شوبلو د ځلورم غنډ د لومړۍ ليوا بولندوی جګړن کاوه .

انقلابي شورى خپل اقدامات له تره کي او ببرک سره پر يوه ټکي را ټول کړل. د اپريل په ٢٨ د مازديګر په ځلورنيمو بجو د تره کي ځانګړې استازی [صالح] د شوروي سفارت ته ورغی چې اړيکه ټينګه کړي. نوموړي ، سفارت ته په کابل کې د روان اکر وکر په تړاو مالومات ورکړل او ويې ويل چې د مقاومت وروستۍ مورچل ورمات شوی او انقلابي شورى اوس بشپړ واک په لاس کې لري. تره کي د شوروي اتحاد له سوسياليستي جمهوريتونو څخه د پاکستان او ايران د شونو بريدونو په اړه د نوي رژيم په رسميت پيژندلو لپاره د مرستې غوښتنه وکړه. په هماغه ورځ امين [د شوروي �ژ] له عملياتي مأمور سره وليدل او له هغه يې د سلا غوښتنه وکړه چې آيا د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې عمومي منشي تره کي دې د اپريل په ٢٩ يا د اپريل په ٣٠ د راډيو له لارې وينا ورکړي؟ ، آيا هغه دې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند له نامه يا يوازې د يوځي انقلابي شورى له نامه خپله وينا واوروي ؟ او آيا تره کي دې يوازې د هيواد د ولسمشر په نامه و نومول شي او يا دې هم ولسمشر او هم د ګوند دعمومي منشي په توګه په يوه وخت کې ولس ته و پيژندل شي؟ امين د ځان او د خپلو ملګرو په استازيتوب له شوروي اتحاد څخه

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



وغوښتل چې څومره ژر چې کیږي په افغانستان کې دې نوی رژیم په رسمیت و پیژني. میشتې څارګرې څانګې په خپل ګزارش کې په ټینګار وویل چې امین له شوروي اتحاد او د کمونیست ګوند له مرکزي کمیټې سره د ټینګې همکارۍ غوښتونکی دئ. واکمني د تره کي ، امین، ببرک او قادر په منځ کې وویشل شوه .

د اپریل د ۲۹ په ماښام پوزانوف او میشت څارګر [8] وایلیوف ګ اوسادچي (مستعار نو یې ایفګیني) [9] له تره کي سره د تاس [10] د خبري آژانس په دفتر کې ولیدل. تره کي خپل نظر داسې څرګند کړ چې که شوروي ملګروڅو کاله مخکې ده ته د داؤود له رژیم سره د هراړخیزې همکارۍ او ملاتړ په اړه له تیروتنې ډکه سلا نه وای ورکړې نو د ده تر مشرۍ لاندې ګوند کولای شوای څو کاله مخکې واک تر لاسه کړي. دغه نظر د شوروي له خوا په ټینګه وغندل شو او ورته وویل شول چې په دغو تیرو کلونو کې داؤود د یوه ولس غولونکي [دیماګوژیک] او بې اصوله سیاستوال په توګه را څرګند شو. حفیظ الله امین (چې جاسوسي نوم یې کاظم وو) ولس ته د راډیو له لارې وینا واوروله. هغه د نوي ځواک د ارګانونو او بیړنیو ستونزو په اړه خبرې وکړې خو له تاکتیکي اړخه یې د ګوند د مخکښې ونډې او په دغې دروهې (دسیسې) کې یې د خپلې ونډې په اړه څه ونه ویل .

د اپریل په ۳۰ نېټه د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې سیاسي بیرو، د افغانستان د پیښې د جاج اخیستنې په تړاو غونډه وکړه. میشتې څارګرې څانګې ته د غونډې پریکړه واستول شوه. په پریکړه کې ویل شوي ول چې له امین سره دې و ګوري او د مسکو غوښتنه دې ورته وویل شي چې ولسمشر دې اعلان اوڅومره ژر چې کیږي دولت دې جوړ شي. په پریکړه کې منل شوي ول چې تره کي دې د ولسمشر په توګه اعلان شي خو دا دې ونه ویل شي چې نوموړی د ولسمشرۍ د دندې ترڅنګ د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مرکزي کمیټې عمومي منشي هم دئ. دا دئ په یوې بلې نېټې کې اعلان شي. همدې ته ورته لارښوونې د بهرنیو چارو د وزارت له لورئ پوزانوف ته ولیږل شوې .

د اپریل له کودتا وروسته د [نور] (تره کي) نوم د [دیدوف] په نوم واړول شو. د مې د مباشتې په ٦ د افغانستان د وسله وال ځواک وزیر الف. قادر له شوروي چارواکو څخه سلا وغوښتله : هغه کسان چې د کودتا په ترځ کې او له هغه وروسته نیول شوي، له هغو سره په څه ډول چلند وشي؟ د هغوی شمیر له لسو زرو زیات وو او زندان ډک شوی وو او دا شمیره مخ په ډیریدو وه. د انقلابي شورۍ ډیرو سرتیرو ته اړتیا لیدل کیدله چې په دومره کچه ډیر بندیان وساتي. اندروپوف او [اندرې اندریو ویچ]ګرومیکو[11] دغه پوښتنه په سیاسي بیرو کې راپورته کړه. سیاسي بیرو پریکړه وکړه چې د کې جي بي یو غړی چې له قادر سره (جاسوسي نوم یې عثمان وو) له پخوا اړیکي لري کابل ته ولاړ شي او هغه ته دې له بندیانو سره د چلند په اړه لارښوونې ورکړي .

برید جنرال ل.ن. ګوریلوف د شوروي د پوځي کارپوهانو د ډلې د مشر په توګه ومنل شو. د نوي رژیم په لومړیو شپو ورځو کې د مرکز د لارښوونې پربنسټ میشتې څارګرې څانګې فعاله اقدامات تر لاس لاندې ونیول چې د

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



کورنیو چارو د وزارت، د امنیتي خدماتو او د جاسوسي ضد څانګو ټول آرشیفونه تر ځار او پلټـنې لاندې ونیسي. د همدغو عملیاتي اقداماتو په ترڅ کې چې میشتې څارګرې څانګې دافغانستان د پوځ د جاسوسۍ ضد ریاست د کالخوای یا سرپرست مشر الف عباس په ګډون (چې جاسوسي نوم یې "استخبارات" وو) له هغو ایجنټانو څخه کار واخیست چې د پخواني رژیم د خاصو خدماتو په څانګوکې یې لوړ دریځونه درلودل. هغوی د پاچا[12] او د داؤود په ادارو کې د ایجنټانو او مخبرانو نوموونه ترلاسه کړل. د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د دفاع د وزارت د (جي آریو)[13] څانګې له میشتې څارګرې څانګې [14] څخه وغوښتل چې کابل ته نیږدې دې د یوه امریکایي بنسټ په اړه مواد تر لاسه کړي ، فیض آباد ته [15]ځیرمه د زلزلې د پلټلو په دفترکې جاسوسي لاسوندونه او نور توکي تر لاسه کړي. له هرې څانګې وغوښتل شول چې ترلاسه شوي توکي په خپله له ځان سره راوړي.

د مې په مباشت کې کابل ته د شوروي د سلاکارانو د ځانګړو خدماتي څانګو لومړۍ ډله را ورسیدله. د هغوی مشري ل.پ بوګدانوف (مستعار نوم دسنین) کوله. د اګست په مباشت کې د کي جي بي پلاوي د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د نویو امنیتي ارګانونو د مرستې او د نوي رژیم ددفاع لپاره په کار پیل وکړ. د سپتامبر په مباشت کې د افغانستان د ګټې د ساتنې د اداري (اګسا) [16] عمومي ریاست د ملي امنیت د ریاست پر ځای جوړ شو. ددغه ریاست موخه د لویدیځو هیوادونو د پلاویود ادارو ځارل، د امریکا د متحده ایالاتو ، د ایران ، د چین د ولسي جمهوریت او د پاکستان د سفارتونو ځارل ، په هیواد کې د عمومي دښمن [17] پر وړاندې د کړی راتـنګول ، په لویدیځو اهدافو او د هغوی په ودانیو اود کورنیو دښمنانو په لیکو کې تخنیکي نفوذ وو.

د اندروپوف د لارښوونې پربنسټ د میشتې څارګرې څانګې یو شمیر غړي امین ته ور وپیژندل شول: میشت څارګر وي جی اوسادچی [18] چې په سفارت کې سلاکار وو، پ.س. ګولیوانوف [19] دویم سکرتر، ډګرمن س ګ باختورین [20] امنیتي مأموراو ی ل.کوخته [21] لومړی سکرتر.

د کي جې بي د پلاوي مشر ډګروال بوګدانوف [22] امین ته څرګنده کړه چې د اپریل له انقلابه مخکې د یو شمیر د پوهې وړ لاملونو پربنسټ د کې جي بي مأمورینو د شوروي اتحاد ددولت امرونه تر سره کول چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند له مشرتابه سره پټې اړیکې وساتي. د کي جي بي مأمورین اوس په داسې چارو کې بوخت شوي چې د شوروي اتحاد او د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت پرضد د لویدیځو هیوادونو د څارګرو څانګو پرپرمختګونو د پای ټکی کښیږدي. د مې د میاشتې له پیله ، میشتې څارګرې څانګې د کورنیو چارو له وزیر نور احمد نور، د پولیسو او ژاندارم له مشر او د ملي امنیت د ریاست له مشراسدالله او په خپله له امین سره اړیکي وساتلې او هڅه دا وه چې د کورنیو چارو په وزارت کې له لویدیځو سلاکارانو څخه خلاصون و مومي.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



امین او تره کي ومنله چې هغوی به سوکه سوکه د جرمني سلاکارانو پر ځای شوروي سلاکاران او کارپوهان د هغوی د کاري قرارداد تر پای پورې ، ځای پرځای کړي. د نوامبر په مېاشت کې کي جي بي د تره کي کور وپلاټه او هلته یې د اوریدلو استخباراتي وسایل ځای پرځال کړل. هېڅ شکمن شی ونه موندل شو .

میشتې څارګرې څانګې ، د [۱۹۷۸ز کال] د جولای په مېاشت کې مرکز ته غوږ بوځونکی خبر ورکړاو ټینګار یې کاوه چې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د مشرتابه په منځ کې شخړه راپورته شوې چې له مخې به یې نه یوازې د مشرتابه ډله له یو بل څخه جلا شي بلکه د ګوند پر کښتـنیو پوړیو به هم اغیزه وشیندي. تره کي او امین د ښي لاسو مرتجعینو پر وړاندې د خپلو غچ اخیستونو لړۍ بشپړه کړې وه او اوس یې مخ فعالو پرچمیانو ته اړولی وو. هغوی د پرچمیانو پروړاندې له لومړني منل شوي ډیموکراتیک چلند څخه لاس پر سرشول اود پرچمیانو پرضد یې ربښتونۍ ترهګري پیل کړه.ګزارش ټینګار کاوه چې د پرچمیانو ځېل اوځورول کولای شي ډېرې بوږونکي پایلې را وزیږوي او که دوام ومومي ښایي د دواړو ډلو ترمنځ جګړه پیل شي او ان د کورنۍ جګړې لامل کیدای شي .

د ببرک پلویانو شوروي استازي قانع کړي ول چې " یوازې د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمېټې مشرتابه کولای شي پرځنګلي اپورتونیستانو اغیزه وشیندي او دې ته یې اړ کړي چې د پرچم د ډلې پر وړاندې خپل چال چلند ته بدلون ورکړي." له یوې خوا د تره کي او امین ترمنځ نانډرۍ او له بلې خوا د پرچم د مشرانو نارندۍ سیاسي ډګر د دښمنیو او سیالیو (انتاګونیسم) په ډک چاپیریال اړولای وو. د ګوند د غړو په منځ کې منفي ګـنګوسې خپرې شوې چې تره کی د سي آی اې او کي جي بي ایجنټ دئ او امین د امریکا یو پټ څارګرمأمور دئ چې تر ډېر ژورپوښښ لاندې پټ شوی دئ. ګنګوسو ټینګار کاوه چې تره کي د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونو ته غوره مالي کوله چې ورڅخه پراخه اقتصادي مرسته تر لاسه کړي ، خپل دریځ پیاوړی کړئ او له هغه وروسته د لویدیځوپالو اوارتجاعي مسلمانانو خوا ته مخ واوړي. امین د تره کي له بشپړ ډاډه څخه خوندونه اخیستل. په پای کې تره کي یې له واکه لیرې کړ، د تره کي ته له پالیالو وزیرانو سره یو شو [ او ویل شوي ول چې] د افغانستان د سیاست مخه به لویدیځ ته اړوي .

دواړو ډلو د دولتي ځواک او دریځ د ترلاسه کولو لپاره له یو بل سره لاس اوګریوان وې. د تره کي ملاتړو ډګر یو ووړ. ببرک له واکه لیرې او وشړل شو. هغه د [۱۹۷۸ز کال د جولای په مېاشت کې] چکوسلواکیا ته د سفیر په توګه وټاکل شو. په ګوند او دولتي څانګو کې تصفیې ، دروهې (دسیسې) ، نیونې او ځورونې راپیل شوې. قرنطین ځایونه او زندانونه تر خولو ډک او بشري حقونه تر پښو لاندې شول. دا ټول د انقلاب تر نامه لاندې تر سره شول او هیله یې کوله چې انقلاب به وده او ټینګښت و مومي. له حده وتلې غوړه مالي ، پرله پسې اغراق او ستاینې د امین او تره کي د سیاستونو په نورمونو واوښتل. د شخصي ګټو په موخې د ګوند تأریخ له کودتا مخکې او له کودتا وروسته له سره تر پایه په تحریف او تزویر ولیکل شو.د هیواد په ژوند کې د ګوند او د ګوند د مشرانو دریځ او ونډه په برلاس کړه شوه. لاسوندونه ، مقالې او لیکونه له سره ولیکل شول او ټول یې په بله بڼه واړول شول. د حقیقي او قانوني

Download from: ketabton.com

بنسټونو پرځای شخصي او عقیدتي اړیکو قانون چلاوه. د خپلویو اړیکو [نیـپـوتیسم] ، په ګوندي کړۍ له یوې ډلې بلې ډلې ته اوښتـنګ او ګوندي کسانو ته خدمتونو د هر څه ځای نیولی وو او تر هر څه ډیر اړین بلل کیدل .

د چارو دریځونه (مقام) او د واکمنتوب کچه ، لاربشود ته د پالیالۍ (وفا) د کچې په پرتله ورکول کېدل. ملي شتمني لوټ شوه. د سیاسي ژوندانه په هینداره کې د بې ځایو او بې بنسټو تورونو لګول اوبد ویل په مخ په ودې توګه په راڅرګندیدا شول. درانده او سپیڅلي کسان د پولیسو د سرټکونې د لومو بدمرغه ښکار ول. ټول هیواد د ډله ییزو ځورونو په یوې حجرې بدل شوی وو. وګړي پرته له پلټـنواو نیاو(عدل) اعدامیدل. د رژیم او ولس تر منځ د بیلتون یو لویه ژوره کرښه رامنځته شوه ، رژیم پر ځواک ، امنیتي ارګانونو ، پولیسو او وسله وال ځواک دډه لګوله. رژیم له هر چا او هر چیري مطلقه سترټیټونه (انقیاد) غوښتله. هر ډول لنډه غر ، سپین سترګي ، مجرمین او په شکمنۍ تورن شوي کسان د ټولنې د اوبو سر ته را وختـل. د سرټکونوکو ارګانونو مشرانو کټ مټ د ونډیمارو (جلادانو) تبرګیو ته ورته ول .

میشته څارګره څانګه پوه شوه چې د افغانستان د ډیموکراتیک جمهوریت مشرتابه ونه شو کولای د هیواد د بیړنیو سیاسي او اقتصادي ستونزو لپاره چې ټولنه ورسره مخامخ ده د لارې د حل د موندلو وړتیا له ځانه څرګنده کړي او د هیواد د ټینګښت لپاره یې ونه شوکولای له شته امکاناتو څخه ګټه پورته کړي. د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند په منځ کې کورنۍ شخړې او دسسیه جوړول د لوی ښوییدونکې خنډ په توګه پاتې شوی وو او دغه لامل د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مخه نیوله چې د مارکسیسزم � لیننیزم پرلاربشودیزو بنسټونو ولاړ په یو لوی سیاسي بنسټ را واوړي. دغه سیاسي بنسټ باید د افغان ټولنې د پرمخ بیولو او د سازماني او ایډیالوژیک ځواک د بیا راژوندي کولو لپاره په یوه ځواک اوښتای وای. خو ددې په بدل کې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند دداسې یوه بدلیدونکي بنسټ لړۍ را پیل کړه چې ګوند د شمیر څرګندو کسانو د یوې ځانګړې ډلې په لاس کې پریوت چې یوازې خپل لاربشود مشر ته پالیاله ول ، دغه کسان له یو بل سره د کورنیو اړیکو ، ګډو ګټو او د ځان غټاوي او په واک کې د پاتې کیدلو پربنسټ ترل شوي ول. میشتې څارګرې څانګې خپلې عملیاتي اړیکې د دواړو ډلو له ټولو مهمواستازیو سره وساتلې. دغو کسانو په ګوند ، دولتي ادارو ، رسنیو او ټولنیزو ټولنو کې کیلیدي دریځونه درلودل. هغوی د شوروي اتحاد استازو ته دغه ګروپینه یا اصطلاح له غوړونو ور تیروله : " په طبقاتې شخړه کې وسله په لاس ملګري] "23[

د ۱۹۷۸ز کال د مې د مباشتې په ۴ نېټې برژنییف ته د افغانستان په ډیموکراتیک جمهوریت کې د فعالو جاسوسانو په اړه خبر ورکړ شو. هغه لاربشوونه وکړه چې له ایجنټانو سره دې هرډول کارې په پرله پسې او پټه توګه دوام وموميٍ] .24[

Download from: ketabton.com

پرچمي سرچينو څرګنده کړه چې ددولت او ګوند فعالين له هغو کسانو څخه ډک ول چې په تيرو وختونو کې يې ځانونه د ګواښ په لوموکې اچولي ول. ګوندي تشکيلات له منځه يووړل شول څکه اوسني واکمنان په بلې ايډيالوژۍ ګروهن دي اوبېره اخيستـنه له حده وتلې وه. [باريس س] ايوانوف [25]، بوګدانوف [26] او ګوريلوف [27] هم ومنله چې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند مشرتابه خپلې هڅې د ګوند پر کورنيو شخړو راټولې کړي او په عمل کې غواړي د پرچم د ډلې ټغر ورټول کړي او د انقلاب د رښتوني دښمن په اړه يې له ځانه لنډ ليد را څرګند کړئ دئ .

د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مرکزي کميټې غړي محمود بريالي [جاسوسي نوم يې " شير"] او د ببرک کارمل ترېور [ بريالی د کارمل کشر ورور وو � ژ] په مسکو کې د کې جي بي له کارمند اي آې نيکراسوف [28] سره وليدل او له هغه يې غوښتنه وکړه چې دی دې د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند د مرکزي کميټې له يوه غړي سره مخامخ کړي. هغه غوښتل شوروي چارواکو ته په هيواد کې د روان اکروکر انځور ورکړي .

بريالي وويل چې زه نه پوهيږم ولې د خلق ډله تل شوروي ته په خپله ليکنو کې خپله ډله د مخکښ ديموکراتيک ګوند په توګه څرګندوي حال دا چې ډيرلږ د پرچم د ډلې نوم اخيستل کيږي. رښتوني کمونيستان خو ټول د پرچم په ګوند [ډلې � ژ] کې راټول شوي او د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند مرکزي کميټه اشتباه کوي چې د خلق په ډلې دومره ډېره لګوي. د انقلاب رښتوني الهام ورکوونکي او سمبالوونکي پرچميان او په پوځ کې د هغوی ملاتړ وسله وال ځواکونه دي .

خو د خلق ډلې د توطـئـې او دسيسې له لارې په ټولې واکمنۍ منګولې ښخې کړې هغوي پوځ تورن کړی او خپل ملاتړ کسان يې په پوځ کې ځای پرځای کړي دي. د پوځ له تصفيې وروسته د پرچم د ټغر راټولو ته يې ملا وتړله چې په مرکزي کميټې کې يې ١٩ � ٢٠ څوکۍ درلودلې. تره کي په شخصي توګه پريکړه وکړه چې ټول ١٩ واړه پرچميان له څوکيو راکښته او بهر ته يې د سفيرانو په توګه وليږي. ببرک چکوسلواکيا ته ، دی (بريالی) په خپله پاکستان ته ، نور احمد نور واشنګتن ته ، وکيل لندن ته او اناهيتا بلګراد ته. امين دوی ته ويلي ول چې د تره کي پريکړه دې پرته له پوښتنې پلې شي. که څوک له دغې پريکړې سرغړونه وکړي نو هماغسې چې ستالين خپل کسان ويشتلي ول له دوی سره به هم وَرته چال چلند وشي. کله چې بريالي ګوتنيونه کړې وه چې هر انقلاب خپلې ځانګړتياوې لري او دوي دې ته اړ نه دي چې په ړندو سترګو هغه څه وکړي چې ستالين د شوروي اتحاد له سوسياليستي جمهوريتونو سره کړي ول خو په پای کې شوروي ملګرو په خپله ، ستالين د هغه د جرمونو پربنسټ محکوم کړ خو امين ، بريالي ته بيرته په ځواب کې د يوه ملګري په توګه اخطار ورکړ؛ که نه د خپل برخليک په اړه دې په خپله پريکړه ونيسي.

کورنۍ شخړې له جدي پايلو سره ملګرې وې. هغه کسان چې د شوروي اتحاد مطلق ، صادق او رښتوني ملګري دي محکمه کيږي. شوروي ملګرو ته ښايي چې ددوی ساتنه وکړي. داسې ښکاري چې د شوروي سوسياليستي

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



جمهوریتونو اتحاد لا تر اوسه د افغانستان د خلق ډیموکرایتک گوند د مشرتابه او د وسله وال ځواک د غوړ تاوولو تر شا ولاړدئ ؛ د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونه دې اوس مخکې له دې چې ډیر ځنډ شوی وي خپل افغان ملگري په سمه لار روان کړي. که په دغې لړۍ کې ځنډ رامنځته شي نوښايي د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند پر هغه لاره ودرومي چې د چین کمونیست گوند پرې تللی وو او پایله به یې خپله په خپله د گوند پر پرځېدنې راواوړي .

په اسلام آباد کې میشت څارگر بي. ن. باتریاییف ته خبر ورکړل شو چې بریالی په اسلام آباد کې د افغانستان د سفیر په توگه ټاکل شوی دئ. باتریاییف ته لارښوونه وشوه چې بریالي ته په ډیپلوماتیکو چارو، د سفیر ددندو په اړه ښوونه وکړي او موخه دا وه چې هغه له رواني اړخه له هغې څاه راوباسي چې پرخپل دولت گوته نیسي ، او له رواني اړخه د ې بریالی له هغه دریځه را وباسي چې ډله یې د خپل هیواد له سفارتي دریځونو سره مخالفه ده خو دئ په ټول وجدان ددې وړتیا لري چې په درنښت او ویاړ هغه دولتي دندې سرته ورسوي چې له ده غوښتل شوي دي.

بریالي ته ور څرگنده شوه چې د خلق او پرچم د ډلو ترمنځ اصولي توپیر له اره شتون نه لري. د پرچم د ډلې پخواني مشران چې د کار لپاره دباندې لیږل شوي دي بیا به هم ټینگ لیننیستان وي، سوسیالیزم او د افغانستان پرمختگ ته به پالیاله پاتې شي.

باتریااییف ته وویل شول چې که بریالی د تره کي په اړه ټینگې گوتنیونې وکړي نو د بریالي د هیڅ ډول گوتځنډېې ملاتړ دې ونه کړي او وړاندیز دې وکړي چې د افغانستان د ولس د گټو په پام کې نیولوسره دې د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند پیاوړي کولو ته ټینگه پاملرنه وشي. د ببرک پلویانو د شوروي له استازو سره د خبرو په ترڅ کې د خلق د ډلې پر اشتباه ډک دریځ ټینگار وکړ چې په هیواد کې د اوضاع د کنترول په لټه کې نه ده او ډله یوازې له پرچمیانو سره په شخړو کې لاس او گریوان ده او د افغانستان په ډیموکرایتک جمهوریت کې روان اکر وکړبه په نیږدې راتلونکې کې په شونې توگه د وراني پر لور و درومي. " زموږ له انده دغسې مالومات ذهني دي او یوازې د ببرک د پلویانو د دریځ څرگندونه کوي. ددغو شخړو په تړاو دې له خبرو اترو ډډه وشي او هېڅوک دې ځان د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند په روانو کورنیو شخړو کې ښکیل نه کړي ".

د ۱۹۷۸ز کال د جون په مباشتی کې بریالي [جاسوسي نوم یې ' شیر'] په نه سترې کېدونکې توگه د اړیکو [جاسوسي اړیکو � هغسې چې پورته په لمنلیک کې ورته نغوته وشوه] د بیا راټینگولو ته لیوالتیا وښودله او ځان یې [میشتې څارگرې څانگې ته � ژ] گټور ښکاره کړ .

د سپتامبر په مباشت کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو سفیرته د بهرنیو چارو له پلوه لارښوونه وشوه چې که د افغانستان ډیموکراتیک جمهوریت سفیرورسره د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند د روانې کورنۍ

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



شخړې په اړه سره خبرې وکړې نو دې دې په ځواب کې دومره ورته وواېي چې دا د افغانستان کورنۍ سکالو ده. که د افغانستان ديموکراتيک جمهوريت سفير نه غواړي چې بيرته خپل هيواد ته شتون شي نو دا دې له غوړونو ور تيره شي چې د شوروي اتحاد په سوسياليستي جهوريتونو کې نه شي کولاى پناه واخلي .

د (کي جي بي) ميشتې څانګې هم بايد خپل غبرګون په وَرته ډول ښودلاى واى. کله چې له باترايېف سره د بريالي غونډه وشوه نو له بريالي څخه د سياسي پناه په اړه په غيرمستقيم ډول پوښتنه وشوه او هغه په ډيرې ځيرکۍ رد کړه. سفير وويل چې هغه به کابل ته ستون نه شي او له باتراييېف څخه يې وغوښتل چې شوروي مشرانو ته دې وواېي چې له ټولو شخړو او ستونزو سره سره هغه به يو ټينګ ، پوخ کمونيست او تل به د شوروي اتحاد د يوه پالياله ملګري په توګه پاتې شي .

بريالى ببرک کارمل ته چکوسلواکيا ته ولاړ. له هغه وروسته ماسکو ته راغى او د نيکراسوف آپارتمان ته يې ټلفون وکړ. هغه وويل چې پرچميان په ډير بوړنوونکي حالت کې دي ، اکر وکر غم لړى دئ او ټول ملګري يې له مرګ سره مخامخ دي. هغه په سوالګرى د بيړنيو اقداماتو غوښتنه کوله چې ببرک او د هغه ملګرې دې وژغورل شي .

"د بشريت په نامه ! موږ وژغورئ! د بشريت په نامه ! موږ وژغورئ!" هغه دا خبره په څو څو ځله تکرار کړه او په هر ځل يې په سلګيو سلګيو ژړل. " زه نه پوهيږم چې څه وکړم. زه هېڅ شی په لاس کې نه لرم چې په خپله يې وکړم. زموږ يوازينې او ټوله هيله شوروي ملګري دي. زه له ببرک څخه ليک لرم خو نه پوهيږم چې دغه ليک چاته ورکړم ".

دغه خبرې سولوسوف [29] او پونيماريېف [30] ته ګزارش ورکړل شوې. هغوى لارښوونه وکړه چې بريالى دې د مرکزي کميټې د نړيوالو اړيکو څانګې ته را وبلل شي. الف. ګ پولياکوف [31] له هغه سره خبرې وکړې. اوليانوفسکي [32] له هغه سره د خبرو اترولو کولو دِنده وکړه .

بريالي ګوتڅنډنه وکړه چې د شوروي اتحاد په دريځ او چال چلند نه پوهيږي تر زنې لاندې يې رښتوني او پالياله کمونيستان په فزيکي ډول له منځه وړل کيږي. هغه په پوزانوف تور ولګاوه چې د هيواد په اړه شوروي چارواکو ته غلط مالومات ورکوي. پوزانوف د جايزو او ستاينو لپاره د زړګونو رښتونو کمونيستانو ژوند د مرګ له ګواښ سره مخامخ کړ. بريالي پوښتنه وکړه چې ولې ماسکواوس ما ته دا سلا را کوي چې خپله پريکړه په خپله ونيسم چې آيا کابل ته ولاړ سم که نه ، ځکه زه نه پوهيږم چې اوس هلته څه تيريږي. پخوا خو به ماته شوروي ملګرو لارښوونې کولې چې څه وکړم اوهېڅکله مې له لارښوونوسرغړونه نه ده کړې. بريالي په هيواد کې د روان اکروکر په اړه د ببرک ليدبڼه څرګنده کړه. ببرک په ځانګړې توګه له پوزانوف څخه خوابدى وو.

"هغه (ببرک) هم سفير او هم کمونيست دئ. په داسې شپو ورځو کې پرچميانو پريکړه کړې چې انقلابي شرايط له بده بد تر نه کړي. خو له دغه دريځ څخه دې د تسليمۍ اخيستنه ونه شي." په راتلونکې يوه نيمه مباشت کې به په افغانستان کې د اکر وکر لړۍ هغې خوا ته و درومي چې پايله به يې تره کي ته ښه نه وي . له دولت څخه د

Download from: ketabton.com

ناخوښيو او نارضايتيو لمنه چې لړۍ يې اوس مخ په پراخيدلو ده لا پسې پراخه شي. د خوښيو او ځرچو وخت ولاړ. اوس پر تره کي د ګوتنيونو او بريدونو وار راغلی دئ .

کي جي بي او ميشتې څارګرې څانګې هم دغو تيروتنو ته پام را وګرځاوو. د تره کي او امين تر مشرۍ لاندې د افغانستان خلق ډيموکراتيک ګوند د شوروي اتحاد د مرکزي کميټې سلا او هيلو ته يې نور غوږ نه نيو ، شوروي ټينګار کاوه چې ټول افغان ډيموکراتيک ځواکونه دې يو موټی شي او د هيواد په رغاونه دې کې کارَنده ونډه واخلي. په سياسي کړيو کې ويل کيدل چې د افغانستان په ډيموکراتيک جمهوريت او د افغانستان د خلق په ډيموکراتيک ګوند کې چې امين د پرچميانو پروړاندې د شخړو اور ته لمن وهي او پر يو شمير خلقيانو ګوتنيونې کوي غواړي د ګوند په مخکښو پوړيو ، پوځ او دولت کې خپل دريځ لا پياوړی کړی. د امين شخصي کړنو او چال چلند ته په کتنې ويل کيدل چې امين به په نيږدې راتلونکې کې د تره کي او د هغه د نيږدې ملګرو پرضد وَرته سرټکوونکي ګامونه اوچت کړي.

د ۱۹۷۸ز کال د مې د مباشتې په وروستيو کې د [ تره کي او امين ] او د ماسکو او پوځي اتشې تر منځ د بيلتون نښې را بربنډې شوې. د افغانستان پوځي اتشې [خاميل/ کامل طره باز] [33] او د هغه مرستيال کابل ته د ستنيدلو پرځای غوښتل لويديځ ته ولاړ شي. تره کي امر وکړ چې هغوی دې د نيول شويو کسانو د بدرګه تر څار لاندې بيرته پلازمينې ته راستانه کړای شي. امين وويل چې هغوی دې پريښودل شي چې اورپا ته ولاړ شي ځکه هغه پوهيده " که هغوی بيرته افغانستان ته راستانه شي ، چارواکي به هغوی ونيسي او د هغوی د برخليک په اړه به په خپله خوښه پريکړه وکړي"

مخکې له دې چې پونومارييف [34] کابل ته غير رسمي سفر وکړي ، امين او تره کي بيړندويه (عجول) اقدامات تر لاس لاندې ونيول چې له مخې يې د ځواک لپاره د توانيزو (پوتنسيال- باالفعله) سيالانو لمنه ور ټوله کړي. په ګوند کې د شخصي سيالانو او تر ځمکلاندې سر ټکوونکي اقدامات او ډله ييزې نيونې پيل شوې. د تره کي پر يوه شخصي دښمن م. الف اکبر[35] تورولګول چې شو د سي آي اې لپاره يې کار کاوه. د اپريل له کودتا وروسته په لومړيو څو مياشتو کې اوه ويشت دروهې (دسيسې) افشأ شوې. د اګست په ۱۵ ستر درستيز شاه پور[36] و نيول شو. د اګست په ۱۷ د نورو وزيرانو او رسمي چارواکو له نيولو وروسته د [افغانستان د ډيموکراتيک جمهوريت] ددفاع وزير ع. قادر ونيول شو. د دې لپاره چې واک پر يوې ستنې ددوی په لاسونو کې را ټول شوی وي نو د ناوړو کسانو له لاسه د خلاصون په لاره کې د امين او تره کي تګلارې لا په روښانه ډول په را څرګنديدا شوې. په افغانستان کې انګيرل کېدله چې د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونه په هيواد کې له دولت سره مرسته کوي او د واک له کړيو څخه د شوروي اتحاد د ټينګو ملاتړو د له منځه وړلو لړۍ نه دَرَوي نو دا په حقيقت کې هغه يوازينې خيانت دئ چې شوروي يې له دوی سره کوي. غټه بيلګه يې قادر وو چې د ۱۹۷۳ او ۱۹۷۸ ز کال په کودتا ګانو کې يې پخه ونډه لوبولې وه .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



تره کي امر کړی وو چې نيول شوې کسان دې په ځانګړي زندان کې وساتل شي. د هغوی له ځای ځايګي څخه دې يوازې يوه کوشنۍ کړی خبره وي. هغه سفير پوزانوف ته وويل چې : " د هغوی ګڼ شميرد ځان وژنې پولې ته نيږدې شوي دي. " هدايت " خو لا وختې ځان وژلی وو. دسيسه ګر نه غواړي چې نوي حقايق افشأ کړي او ملا يې تړلې چې حقايق پټ وساتي. قادر تر اوسه اعتراف نه دئ کړئ خو خپلې څو تيروتنې يې منلي دي. اوس دې وار دئ چې سياسي مشرتابه ته ددسيسې له مخې څادر ليري شي او څرګنده شي چې د قادر او شاه پور تر شا څوک ولاړ دي. مورږ ډاډ لرو چې ددغه کار د سمبالولو وسه لرو ".

شاه پور په ډير بد رواني حالت کې وو. هغه تل ژړل او غوښتل يې چې ژر تر ژره دې په ډزو ووژل شي. کې جې بې ته ددولت د څارګرۍ � ضد اداري مشر عزيز، په محرم ډول وويل چې پلټنې يوازې له هغو کسانوڅخه کيدلې چې تورن سرې د لاسوندونو ورکړې ته چمتوالی ښوده. پاتې کسان په ډزو ووژل شول. د خميني [37] لارويان او د اخوان المسلين [38] د ډلو غړي بايد په يو ځل وژل شوي واي .

د ۱۹۷۸ ز کال د مې په مباشت کې د بلخ ولايت ۹۰۰ [نهه سوه تنه] اوسيدونکي د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د ولايتي کميټې د لومړي منشي عبدالله احد [اوموسي] [39] په امر د غوايي د انقلاب د دښمنانو په تور ونيول شول. هغوی د ولايت مرکز د مزارشريف زندان ته واچول شول. يو کميسيون وټاکل شو چې د ددغو کسانو د انقلاب ضد کړه وړه و پلټې. هغوی تر بوږنوونکو وهلو ، ټکولو او ځورولو لاندې ونيول شول. د جون په نيمايي کې له کابله امر راورسيد چې ټول نيول شوي کسان دې پلازمېنې کابل ته واستول شي. د کسانو د شميرلو په وخت کې ومونډل شوه چې د نيول شويو کسانو شمير لږ شوی دئ. هره شپه له ۵۰ تر ٦۰ تنوپورې په مزار کې ميشتې د اتلسمې فرقې له پلوه په ډزو وژل کېدل. هغوی چې څوښتې وروسته وژل کېدل اړ ايستل کيدل چې خپل قبر په خپل لاس وکيندي. د نيول شويو کسانو په اړوند هېڅ ډول لاسوندونه نه ول، خو د هغوی د اعاشې د لاسوند له مخې څرګنديدېږي چې د نيول شويو کسانو شميره په ورځنۍ توګه له ۳۰ تر ۷۰ تنو پورې لږ شوې ده. د زندان اداري وويل چې نيول شوي نارينه د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو د اورال [40] او سابيريا[41] سيمو ته د شاقه کارونو لپاره ليږل شوي دي.

د وژل شويو کسانو خپلوانو ته پارسلونه را ورسيدل. په پارسلونو کې ګڼ شمير توکي ول لکه صابون چې په هغه کې پټ ليک ځای پرځای شوی وو او په ليک کې د شاقه کارونو بنه ويل شوې وه) .42[

تره کي پوزانوف ته د يوې دولتي ضد دروهې په اړه چې د ۱۹۷۸ز کال په اګست کې افشأ شوې وه خبر ورکړ.چين، د امريکا متحده ايالات، ايران، پاکستان ، سعودي عربستان او د جرمني فدرالي جمهوريت په کې ښکېل ګڼل شوي ول [له متن څخه څلور ټکي ورک دي]. دروهه جوړونکو پلان درلود چې امين او تره کي له منځه يوسي او نوې دولتي مشرتابه غوره کړي. د وسله والو ځواکونو پخوانی ستر درستيز شاه پور او د جمهوريت روغتون رئـيس م . ع. اکبر

Download from: ketabton.com

چې مخکې نيول شوي ول د دغه پلان مخ لوڅ کړی وو. امين وويل : " زموږ چارواکو اوس له دغونيول شويو کسانو څخه اعترافات اخيستي دي،" هغه زياته کړه :" ګوند په دې بريالی نه شو چې له قادر څخه يو رښتونی مارکسيست � لينينيست جوړ کړي ، هغه تر هرې منفي اغيزې لاندې راته".

پوزانو ف له امين سره ومنله چې : " دا زموږ تير وتنه وه، پوزانوف مسکو ته وويل چې " زموږ له انده قادر له سياسي اړخه نه وو پوخ شوی. هغه هر هوس ته غاړه ښوله او احمق وو. سفير د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د مشرتابه پورته شوي ګامونه د دغو ټکيوپه ويلو سم وبلل " چې د سفارت له انده پورته شوي ګامونه به د انقلابي دولت پايښت او سټـنې پياوړي کړي او په افغانستان کې به د ګوند او وسله والو ځواکونو اغيزې لا پسې غښتلې کړي. " امين پوزانوف او وي اي خزاروف ته ډاډ ورکړ چې دی تل خوښ دئ چې له خپلو شوروي ملګرو سره سلا کوي او خوښ په دې دئ چې له پرچميانو سره د شخړې په اړه د شوروي اتحاد کمونيست ګوند پوهيدنه او جاج کټ مټ په هاغه ډول دی چې بلشويکانو له مينشيويکانو سره درلودله .

تره کي د خپلو سيالانو کمبله ورټوله کړه خپلې اغيزې يې پياوړې کړې او هڅه يې وکړه چې د ولس په منځ کې منلی او مخور دريځ و مومي . د همدغې موخې د تر سره کولو لپاره هغه د جمعې د لمانځه لپاره جومات ته ولاړ. د هغه راډيويي ويناوې تل په بسم الله الرحمن الرحيم پيليدلې .

د کی جي بي د ميشتې خارګرې څانګې د اټکلنې پربنسټ د غوايي د کودتا د پيل په شپو ورځو کې په وسله وال ځواک کې د پرچم د ډلې ۵۰۰ تـنه غړي او ۱۲۰۰ تنه د پرچم ډ ډلې ملاتړ يا مينه وال ول. همدې ته ورته خلقيانو ۴۷۰ تنه غړي او ۱۱۰۰ تنه ملاتړي مينه وال درلودل. د ټولنې د ملکي وګړو په منځ کې ۵۵۰۰ پرچميان او څو سوه تنه خلقيان ول .

د ۱۹۷۹ز کال د جون په مباشت کې د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ټول غړي د ملکي وګړو په منځ کې ۱۴۰۰۰ تنه او په وسله وال ځواک کې ۳۰۰۰ تـنه ول. د ګوند ټول ځواک د تره کي او امين په لاسونو کې را ټول شوی وو او نه يې غوښتل چې په هيواد کې د ډله ييزواک چلولو تګلاره را خپله کړي .هغوی د ګوند د صلاحيت کچه راټيټه کړه اود انقلابي شوری ، د مرکزي کميټې او د وزيرانو هر ډول نوښت يې په ټپه و دَراوه. هغوی د ګوند او ددولت د جوړولو په ژوند کې د مارکسيزم � لينينزم ټولو پرنسيپونو ته شا کړه. د تره کي � امين سياسي � ګروهنيزې تګلارې د هر څه ځای ونيو. ان مخکی له دې ، ميشتې خارګرې څانګې ته پته ولګېدله چې امين ، تره کی له لينن سره پرتله کاوه ، د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند ټول تأريخ منحرفه شوی وو او ويل کيدل چې د ۱۹۷۸ز کال د اپريل د ۲۷ او ۲۸ پيښې د انقلاب لپاره د يوه مډل په توګه بلل کيدلې. د کې جي بي د پلاوي لپاره په يوې مېلمستيا کې چې مشري يې د کې جي بي لومړي او لوی مشر وي. الف. کريچوف [43] کوله ، تره کي په افغانستان کې د غوايي انقلاب په روسيه کې د اکتوبر له انقلاب سره په دې ډول په پرتله ييز ډول وتاړه : ځواک په بيړه د

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



گوند لاس ته ورغی ؛ د گوند په کورني ژوند کې بلشویکانو ، د منشیویکانو او سوسیالیستو انقلابیونو پروړاندې جگړه کوله او په افغانستان کې هغوی د یوه یو موټې گوند له لارې هڅه کوله .

هغه وویل " موږ په یو شمیرسوسیالیستو هیوادونو کې د څو گوندیز سیستم درناوی کوو ، خو موږ غوره بولو چې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د بیلگې پر لاره گام کښېږدو. هغه څه چې اوس په افغانستان کې پیل شوي دي په حقیقت کې د پرولتاریا د دیکتاتوۍ پیل او د شوروي اتحاد د مـُډل پربنسټ ولاړ دئ ".

وروسته د ۱۹۸۱ ز کال د جنورۍ په مباشت کې میشتې څارگرې څانگې مرکز ته ولیکل چې د خلق د ډلې یو شمیر غړي بیا غواړي د تره کي د شخصیت او د افغانستان د خلق ډیموکراتیک گوند په بنسټ ایښودلو کې د هغه د ونډې په اړه ډوزو (مبالغو) ته دوام ورکړي) .44 ]

په پوځ کې گنگوسې خپرې شوې چې پرچمیانو په مؤقت ډول کنترول په لاس کې نیولی دئ، هغوی د بولندویانو امرونه سبوتاژوي او د دولت په وړاندې یې کمپاین پیل کړی دئ. ببرک د خپلو شوروي ملگرو د دریځ له ویرې ، د تره کي پرضد له خبرو کولو ویریده. له شورویانو سره د تره کي خبرو اترو څرگنده کړه چې شورویان د گوند د ستونزو په اړه د یوې څرگندې لیکې منلو ته چمتو نه دي ځکه چې د اکر وکر له روان بهیر څخه یې روڼ انځور نه درلود. گڼ شمیر وختونه سلا گانې له اړوپیچه (تناقضه) ډکې وې .

کي جي بي څو ځله د خپل استازي له لارې له امین څخه چې د دولت او امنیتي ارگانونو واک یې په لاس کې درلود وغوښتل چې د یوشمیر کسانو په اړه دې عدلي څارنه بنده کړي ، د هغوی له نومونو څخه دې د هرډول سیاسي شکمنۍ تورونه پاک کړي او د کې جي بي څو تنه ایجنټان او د ډاډ وړد اړیکو لرونکي کسان دې چې د چارواکو له پلوه پرې د دولتي ضد فعالیتونو تورلگول شوی دئ ، خوشې کړي. امین ته وویل شول چې لاندینیو کسانو د شوروي د کي جي بي استخباراتو لپاره گټور کارونه تر سره کړي دي او په افغانستان کې یې د ډیموکراتیک انقلاب په لړۍ او د شوروي او افغان ولسونو د دوستۍ په ټینگښت کې پخه ونډه لوبولې ده. امین ته په دغه وړاندیز کې ددغو کسانو نومونه ول:

د داؤود د رژیم د سر وزیر مرستیال ح. شرق،]45[

د کورنیو چارو د پولیس او ژاندارم پخوانی مشر صمد اظهر ،

د انقلابي شورى پخوانی غړی او د ټولنیزو گټو / فوائـد عامي پخوانی وزیر[46] محمد[47] رفیع] 48[،

د سوداگرۍ د وزیر پخوانی مرستیال عبدالسلام ،

د دفاع وزیر قادر او یو شمیر ډیر نور .

Download from: ketabton.com

دغسې یوې غوښتنې ته په ځواب کې د امین په استازیتوب د ملي امنیت عمومي مشر اسدالله وویل چې " د هغو نیول شویو کسانو ژوند به ، چې له تاسو سره یې اړیکې درلودلې خوندي وساتل شي ، ښایي د پینځو کالو په ترڅ کې خوشې شي." امین په خپله چمتو ښکارید چې هغه افغانان چې شوروي ملګرو ته مالوم او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو دوستان ول خوشې کړي. ددې ترڅنګ په همدې وخت کې امین دغه نیونې د رسمي جزأ په نامه وبللې. : "هغه ټینګار وکړ چې په هیواد کې د نویو دولتي فعالینو اډانه جوړه او د ټولنیز � اقتصادي بدلون لپاره نوې لارې چارې تر لاس لاندې نیول شوې دي.

یو شمیر شوروي کارپوهان په ځانګړې توګه هغه کسان چې د پخواني رژیم تر سیوري لاندې یې تر ډیرو کلونو پورې کار کړی وو او اوس بیرته هیواد ته راستانه شوي ، بیا هم له افغانستانه هماغه پخوانې زړه لید بڼه لري اوپه عیني توګه روان حالت ته نه ګوري] .49[

پوزانوف د شوروي مشرانو په استازیتوب له تره کي څخه غوښتنه وکړه چې دوه تنه نیول شوي کشتمند [50] او قادر دې ونه وژل شي. تره کي وویل :" هغوی ډیرستر جرم کړی دئ . هغوی د چین او د امریکا د متحده ایالاتو په مرسته یوه منظمه دسیسه ترلاس لاندې نیولې وه. زه له تاسو سره همغږی یم چې ځېل یوه پیاوړې وسله ده. خو لینن موږ ته راښودلي چې باید د انقلاب ددښمنانو پر وړاندې بې رحمه و اوسو او د اکتوبر د انقلاب د بریا لپاره باید په میلیونونو انسانان ووژل شي. که دغه وسله په زغرده او پریکنده ډول په کار یوورل شي ، هغسې چې پرون د کابل د اله ګولې په ځېلو کې وکارَول شوه ، نو پایلې یې په بشپړ ډول څرګندې دي".

د غه خبرې اترې د ۱۹۷۹ز کال د اګست په شپږمه نېټه تر سره شوې دي. ب. ن. پونیمارییف [51] د لارښوونو لپاره د ۱۹۷۹ز کال د جولای له ۱۷ تر ۲۰ کابل ته تللی وو. دټولیزو ګټو/ فوائد عامې وزیر پنجشیري [52] [جاسوسي نوم یې "ریچارد"] د خپلو پټو محرمو خبرو په ترڅ کې ژوره خواشیني څرګنده کړه چې پونیمارییف د ګوند له اکثریتو فعالینو سره له لیدنې کتنې ډډه وکړه. هغه ریچارد پنجشیري وویل چې ان هغه د سیاسي بیرو له غړو سره ونه لیدل؛ هغه یوازې د خپلې کتـنې کړی له امین او تره کي سره په لیدلو تنګه کړې وه. هغه وویل " د سیاسي بیرو پریکړې یوازې د دوه کسانو امین او تره کي په لاس کې دي. په غونډه کې ناست کسان یوازې د پریکړو منلو ته ناست دي. د سیاسي بیرو په غونډو کې یوازې هغو ناستو کسانو ته د څه ناخه دونډې لوبولو دنده ورکول کیږي چې چکچکې کوي. هیڅوک دومره زړه او جرئـت نه لري چې د تره کي او امین پرضد دې خبرې وکړي ځکه ټول ویریږي چې د انقلاب دښمنان به و نومول شي. د ولس په وړاندې د امین او تره کي سیاستونو غټه زړه بدوالي او ناخوښي راپارولې ده. بې ګناه خلک د شپې له پلوه په بې دلیله ډول د هغوی د میرمنو او ژړاندو ماشومانو تر مخې نیول کیږي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د پونیمارییف [53] تیروتنه او بصري اشتباه ب . س . ایوانوف [54] اصلاح کړه. هغه له دستګیر پنجشیري (ریچارد) سره د ۱۹۷۹ ز کال د جولای په ۲۹ نېټه ولیدل او د شوروي اتحاد د کمونیست ګوند د مرکزي کمیټې له هغه لیک څخه يې خبر کړ چې پونیمارییف د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند مرکزي کمیټې ته راوړی وو. پنجشیري له ایوانوف څخه پرهغه د ډاډ له کبله مننه وکړه او ژمنه يې وکړه چې په نه ستړي کیدونکې توګه به د هیواد د ښیګڼو لپاره کار وکړي چې له مخې به يې د ګوندونو او یو موتې هیوادونو تر منځ دوستي او ملګروتوب پیاوړی شي. هغه وویل چې د تره کي او امین پریکړو ته د بې قید او شرطه غاړه ایښودلو روانه لړۍ به ونه شي کولای پر پخوانیو تیروتنو بر لاسي شو او یا به ددې جوګه نه شي چې په هیواد کې اکر وکر بیرته نورمال حالت ته را وګرځوي. میشتې ځارګرې څانګې د [ریچارد] مالوماتو ته ډیر ارزښت ورکړ .

د ۱۹۷۹ ز کال د جولای د میاشتې په ۲۷ نیټې تره کي په دولت کې نور بدلونونه رامنځته کړل. د پوځ د سمبالولو چارې یو ځل بیا امین ته وسپارل شوې. پونیمارییف [55] او ل. پ ګوریلوف [56] [ د شوروي مشر پوځي سلا کار تره کي ته ورغلل او له هغه يې د بدلونونو د لامل پوښتنه او سپړنه وغوښتـله.

امین له خپلو کسانو پوښتنه وکړه چې ولې شوروي ملګرو په داسې بیړنۍ توګه له تره کي سره ولیدل؟ خو امین همدغې پوښتنې ته په خپله په ځواب کې وویل " داسې بریښي چې شوروي ملګرې تره کي ته ددولت په منځ کې د بدلون په اړه ورغلي ول او موږ شورویان له بدلونه مخکې نه ول خبر کړي".

مسکو ته له کابله ګزارش را ورسید چې په کابل کې امریکایي ديپـلوماتان ددولت بدلون یوه نومیده هیله بولي چې له مخې يې غواړي روان اکر وکر وژغوري. امین پرځان د لوی ګواښ منلو ته غاړه ایښې وه ځکه که د یاغیانو په وړاندې جګړه کې بریالی نه شي نو دی به د نوروکسانو بلهاری (قرباني) شي. ایوانوف له امین سره له غونډې وروسته د جولای د میاشتې په ۲۹ دغه تیلګرام مسکو ته ولیږه : " تره کي امین ته زموږ بشپړ پیغام او د اندیښنو ټولې برخې نه دي ویلي. داسې ښکاري چې تره کي دغه کار ددې لپاره کړئ چې امین ته څرګنده کړي چې د شوروي اتحاد امین ته ډیر درناوی لري ".

د شوروي پلاویي او افغان مشرتابه ترمنځ یو څرګند سوړ چاپیریال رامنځته شوی وو. افغانانو تر یوې کچې ښه مخ او لیوالتیا څرګنده کړه او پرته له سلا او مشورو يې چال چلند وکړ. [پایله دا شوه چې] [شوروي] سلاکارانو او کارپوهانو ته لارښوونه وشوه چې د افغانانو د[ اخیستل شویو] ګامونو په اړه دې اړین مالومات را ټول کړي. د شوروي د پلاوې ډلې غړي زیات شول او د کي جي بي د استازیتوب پـیـنځه مرستیالان وګومارل شول ؛ د جاسوسۍ � ضد ، پوځي � جاسوسي ضد، سرحدي ستونزو او د کورنیو چارو د وزارت د [کړنو] په اړه دې مالومات راټول کړي. د کي جي بي د پلاوې لومړی مرستیال [ چې دنده يې له ګونډي دولتې مشرتابه سره مرسته وه] د ځارګرې څانګې د مشر په توګه و ټاکل شو.د مالوماتو د شننې او کره کتنې ډله جوړه شوه. د ۱۹۷۹ز کال د مارچ په میاشت کې سیاسي بیرو

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يوه ځانګړې پريکړه وکړه چې له مخې يې جنرال ن. س. ويسيلکوف [57] د شوروي اتحاد د کورنيو چارو د وزارت د سلاکارانو په هغه ډله کې وګومارل شو چې د افغانستان د کورنيو چارو له وزارت سره تړلي ول .

د افغانستان ګڼ شمير ادارو ته ډول ډول پلاوي وليږل شول چې پر افغانانو اغيزه وشيندي. ددغو پلاويو په يوې ډله کې د کورنيو چارو د وزارت د پرسونل عمومي رئـيس الف.ی.دروزدڅکي [58] ، او د ديپارتمنت مشر الف . ی.[ايلين] [59] د جون په مياشت کې پوليس او ژاندارم ته واستول شول.

سلاکاران فعال ول اود ټولو وزارتونو په سوړو د کيندلو لپاره ور ننوتل. د بيلګې په توګه سلاکار ن.ک ګريچين [60] وويل چې هغه دې د " پټ وزير" په توګه وټاکل شي چې د پلان وزير ترڅنګ کاروکړي او اقتصادي او مالي چارې ورسره په ګډه په مخ بوزي او هم به هغه پلانونونه چې دوی ته ورکول کيږي پلي کړي ؛ په حقيقت کې دې به د هرڅه پازوالي " مسؤوليت" په غاړه ولري. نوموړي وړانديز وکړ چې ټولې اړوندې خواووې يعنې وزارتونه دې ددوی له ټولو پريکړو سره همغږي وي.

د ماليې چارو وزير عبدالکريم ميثاق او د سياسي بيرو غړي پرځای نيوکه او ګوتڅنډنه وکړه چې " دا خو ملګري ملتونه نه دي "!

ميثاق وويل هر وزير د خپل وزارت د ټولو چاروپازوالي لري او هيڅ کميسيون نه شي کولای د هغوی د دندو ځای ونيسي].61 [

د سلا کارانو ډلې پريکړه وکړه چې ميثاق بې اعتباره کړي.

ميثاق په څرګنده ويل چې " په هيواد کې په ديرشو مياشتو کې د سوسياليزم د په پښو دَرَولو لپاره ." ، شوروي اتحاد اړ دئ چې د افغانستان له ډيموکراتيک جمهوريت سره مرسته وکړي.

کې جي بي د هغه څرګندونې په شوروي اتحاد پورې د ډيرې ډډې لګونې يا اتکأ د نخښې په توګه و ګڼلې او [يا هم په شوني توګه] د شوروي د مرستو د بې اعتباره کولو په موخې .

د ۱۹۷۹ز کال د جنوري په مياشت کې ميثاق په مسکو کې د افغان مشرتابه او د دريمې نړۍ د هيوادونو په منځ کې په دې تور افشأ شو چې نوموړي د کې جي بي له امکاناتو څخه ګټه اخيستله.

افغان مشرتابه ته وويل شول چې ميثاق د شوروي اتحاد له سوسياليستي جمهوريتونو څخه د سرچينو لپاره نامعقوله غوښتنې لري او هغه په دې دريځ کې نه دئ چې ددغسې غوښتنو وړتيا ولري .

سلاکارانو وويل چې هغوی په بې خبرې کې د ميثاق تر اغيزو لاندې راغلي ول. ميثاق د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو په وړاندې له دښمنۍ ډک دريځ درلود او د هغه کړه وړه د مائـؤيستانو تر اغيزو لاندې وو .

Download from: ketabton.com

د ماليې د وزير مرستيال زوتوف[62] د سوداګرۍ د وزيراو د انقلابي شورى د غړي غوربندي [63] په وړاندې ډېر زيړ او تريخ چلند دريځ درلود.

افغانانو هم له خپله اړخه د پوځي سلاکارانو د وړتيا په اړه خپله نا خوښي څرګنده کړه. امين د ۱۹۷۸ز کال په پای کې د ننګرهار د کامديش د ولسوالۍ په تنګه دره کې خپله ژوره انديښنه څرګنده کړه.

امين وويل : " له هغې ورځې چې سلاکاربرياسکين د افغان د سرتيرو سرمشري کوي افغان پوځ د انقلاب ضد ډلو په ټکولو کې څرګنده ناوړتيا ښودلې ده. موږ ستاسو سلاکارانو ته د افغان سرتيرو په منځ کې پراخ او هر اړخيز واک ورکوو. موږ هغو سرتيرو ته کلکه سزا ورکوو چې ستاسو د بولندويانو د سلاګانو په پلي کولو کې پاتې راځي. دا موږ ته ددې مانا راښندي چې ستاسو ټول سلا کاران وړ اوبې کفايته دي. موږ هغوتجربه کارو جنرالانو ته اړتيا لرو چې موږ يې په شوروي اتحاد کې پيژنو. هغوی بايد د افغان سرتيرو جګړه ييزه وړتيا لوړه بوزي او هغوی ته دې جګړه ور زده کړي او ور زده دې کړي چې په جګړه کې دې د شوروي پوځ تجربه پلي کړي " .

امين ټينګار وکړ : " پرته له هغې ، موږ ته به ډېره ګرانه وي چې ستاسو له جنرالانو سره په دې ډول چلند وکړو".

امين ګوريلوف ته په نغوتې ، جنرال زپلاتين[64] ته وويل، " او د هغه مرستيال (خرامچينکو)[65] ددې وړتيا نه لري چې برړکې (جدي) پريکړې تر لاس لاندې ونيسي." افغانان د شوروي د رښتوني ژوند د کوډو له خوبونو راپاڅيدلي دي.

افغان ايجنټ [رککاس/ رقاص] 66[] وويل چې د هغه ميرمن په مسکو کې د بوټکين وه ؛ په روغتون کې ډاکټرانو او نورو اړوندو کارکوونکو نه يوازې له هغه څخه د تحفو او بډو هيله درلودله بلکه داسې چلونه يې تر لاس لاندې ونيول چې د بډو او تحفو د لاس ته راوړلو لپاره يې د درملنې کار بيرته غورځاوه.

شوروي لوري هم ډيرې سر ټکونې درلودلې خو هغه يې په بل ډول څرګندې کړي. په لاندې ډول:

د شوروي اتحاد د کمونيست ګوند مرکزي کميټې ته په مستعار نوم يو ليک راغلی وو. په ليک کې ويل شوي ول چې سفير پوزانوف ، پوځي سلاکار ګوريلوف او د کي جي بي د ميشتې څانګې مشر اوسادچي ترون جوړ کړی وو. هغوی د ګوند د تګلارې کرښه د خپلو شخصي او کاري لاملونو له امله منحرفه کړې وه. هغوی د سفارت شتمنې لوټ کړې او ځانونه يې شتمن کړل ، ډير شراب يې څښل او د عياشۍ ژوند يې خپل کړی وو. د سفارت پوځي اتشې او قونسلانو غلط ليکونه ليکل او د حالاتو ناسمه ارزونه يې کوله. هغوی مالي مفتشين په نشوکې ډوبول او بډې به يې ورکولې .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



بڼې ورکول دود ګرځېدلی وو ، له شوروي او افغان کارپوهانو څخه په وچ زور تحفې اخیستل کېدې. د شوروي اتحاد له مرکزي کمیټې څخه ګوندي فعالینو هم ځانونه شتمن کړل. هغو کسانو چې په دې لړ کې همکاري نه کوله د غچ اخیستنې په لومو کې راښکېلېدل او یا بېرته کورونو ته لېږل کېدل.

د لیک لیکوال د داؤود پر وژنې ډېر خواشینی وو او ځرګنده کړې یې وه چې" داؤود د هرڅه په مغزپوهیده" لیکوال د افغانستان مشرتابه ته سپکې سپورې ویلي ول.

پوځ د نړیوالې دندې په تر سره کولو کې له دسپلین څخه وتلی وو. بیلګه یې دا ده : د ۱۹۷۹ز کال د جون په ۲۱ د ۲۵ فرقې کې څلور تنه شوروي ژباړونکي چې د خوست په ښارګوټي کې دیره ول د خپل فراغت په ویاړ یوه میلمستیا جوړه کړې وه. د میلمنو په ډله کې د څارګرې څانګې مشر، ډګرمن کالینن[67]، د سرحدي ګارد مشر ګوروفیس[68] ، د ۵۹ توپچي لیوا بولندوی جګړن ن . س. سیمینچنکو[69] او د فرقې بولندوی ن. الف. کروس [70]هم ول. هر چا ته ، د هغوی تر وسې شراب برابر شوي ول. تاسو پوهیږئ کله چې نشه پیل شي نوبحث او تودې خبرې اترې هم ورسره پیل شي او د خبرو بڼه په بشپړ ډول بازاري کیږي. یو وزبک بریدمن صادقوف هر ډول سرټکونې او شکایتونه چې درلودل را برسیره کړل.

هغه تر ډېرو شیبو له خپلو کړاوونو وګړید او بیایې د خپل مشر له هغو ګوتنیونو څخه یادونه وکړه چې پر ده یې د ناسمې ژباړې په اړه کړې وې. صادقوف ډېر پاریدلی او قهرجن وو او د ناستو سلاکارانو په ځورونه یې پیل وکړ. صادقوف ماشیندار را پورته کړ او ټولو ته یې د غچ ګواښ وکړ. سر بریدمن مالولتکین و کولای شول چې صادقوف بې وسلې کړي او بلې خونې ته یې بوت او هلته یې بیده کړ.

یو ساعت وروسته صادقوف له خوبه را پاڅید او د نوکریوال خونې ته په ډېربوږنوړي قهر ورغی:صادقوف نوکریوال ته وویل " ته ګومان کوی چې له خپل مورني ټاټوبي څخه دې دفاع کوی؟ هو؟ که نه؟ تاسې ټول خائینین یاست!" او بیا یې په برېزو پیل وکړ.نور یې تاسو اټکل وکړئ چ چې د یو نیشه سړي له خولې څه را وځي.

دغو خبروټول کسان په اندیښنه کې اچولي ول. افسرانو کیسلییوف[71] ، ریباچینسکي[72] او کوستین[73] دلیلونه راوړل او غوښتل یې چې صادقوف غلی کړي. هغوی صادقوف بلې خونې ته بوت. خو یو ساعت وروسته صادقوف بیا له ماشیندار سره را ښکاره شو. هغه بیا هم تر دغه دمه نیشه وو او د شرابو په اغیزو کې ډوب وو. هغه غوښتل یو دا لان ومومي او دباندې راووځي او هر لور یې ډزې کولې. سیمینچینکو ووژل شو او مالولتکین[74] او یو افغان سرتیری ټپیان شول .

د پوځ د لوی سلاکار مرستیال س.پ.توتوشکین[75] ته په ډېرې چوټتیا د پیښې په اړه خبر ورکړل شو. له هغه وروسته د پیښې خبر د لوړې بولندې نورو لوړو پوړیو ته ورسول شو. د سیمینچینکو کورنۍ د هغه له مرګه خبره کړل شوه او کورنۍ ته یې وویل شول چې: هغه د خپلې نړیوالې دندې د تر سره کولو په وخت کې په ویاړ ووژل شو.

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[1] Figir

ښايي فقير وي. [ژباړونکی]

[2]د مصحح یادښت : د افغانستان د خلق ډیموکراتیک ګوند د پرچم دډلې غړی ، په ۱۹۷۳ ز کال د هوايي او هوايي مدافعې د ځواکونو بولندوی وو چې د غوايي په انقلاب کې یې برخه واخیستله او د تره کې تر مشرۍ لاندې د ملکي دولت تر راتګه پورې د انقلابي شورى مشروو. په ۱۹۷۸ز کال کې نوموړی تر دریو میاشتو پورې ددفاع وزیر وو خو د اګست په مېاشت کې په مرګ محکوم او زندان ته ولوید. کله چې ببرک په واک کښېنول شو، قادر له زندانه خوشې او پخوانی ګوندي دریځ ورته بیرته ورکړل شو او له (۱۹۸۲ تر ۱۹۸۵ ز کالو پورې) ددفاع د وزیر په توګه پاتې شو. پرکال ۱۹۸۵ ز کې یې د ګوند له سیاسي بیرو څخه استعفا وکړه او یو کال وروسته پولند ته د سفیر په توګه ولیږل شو. هلته له دوه کالو وروسته ، بیرته هیواد ته را وبلل شو او په پارلمان کې د غوره شوي غړي په توګه وټاکل شو. د ګزارشونو پربنسټ د مارکسیست رژیم له نړیدا وروسته په اروپا کې یې پناه واخیستله.

[3]د مصحح یادښت : سید محمد ګلابزوی (agent 'Mamad')

[4] M. Rafi (agent �Niruz')

[5]د مصحح یادښت: پوزانوف : له ۱۹۷۲ز کال نیولې د شوروي اتحاد سفیر

[6]د لیکوال یادښت: خاص ارګانونه یا خدماتي څانګې د دولت ریاستونه او د مخالفینو هغه بنسټونه دي چې یا په نیغه یا په غیرمستقیم ډول له څارګرو ، اجرائـیوي او له جاسوسۍ ضد ادارو سره یا په خپل هیواد کې یا له هیواده د باندې تړلي وي لکه : څارګرې څانګې ، د جاسوسۍ ضد اداري ، پولیس اوژاندارم ، د مهاجرت او ګمرک څانګې ، سرحدي ساتونکي، د فعالو اقداماتو او د غلطو مالوماتو د خپرولو څانګې ، ورانوونکې او ایدیالوژیکې څانګې او د رواني جګړې څانګې . لنډه دا چې دغه ټولې څانګې یا څارګرې او یا جاسوسي - ضد څانګې یادیږي.

[7]د اسرائـیلو څارګره اداره

[8]د لیکوال یادښت:میشت څارګر د څارګرې څانګې هغه غړی دئ چې د مرکز د نورو غړو له پلوه د میشتې څارګرې څانګې د مشر په توګه ټاکل کیږي.

[9]د مصحح یادښت: د آی الف. کریفوګوز په نامه هم پیژندل کیده

[10]د مصحح یادښت: د شوروي خبري آژانس

[11]د مصحح یادښت: د شوروي د بهرنیو چارو وزیر له ۱۹۵۷ ز وروسته. له هغه وروسته (۱۹۸۵ تر ۱۹۸۸ ز پورې) د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د عالي شورى د رئـیسه هیـئـت مشر .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[12]د مصحح یادښت: پاچا ظاهرشاه ۱۹۳۳ تر ۱۹۷۳ پورې

[13] GRU

د مصحح یادښت: د شوروي پوځي څارګره څانګه

[14]د لیکوال یادښت: د پوځ د میشتو څارګرو څانګو وزارت لکه د کي جي بي د میشتو څارګرو څانګو په څیر په نړۍ کې خپلې څالې درلودلې. لاندنې شمیرې په ۱۹٦۲ ز کال کې د جي آریو یا د پوځي استخباراتو شمیرې او ځایونه په ګوته کوي. د افغانستان لپاره ټوله شمیره ۴ ، سوریه ۷ ، ګانا ٦ ، ګینیا ۳ ، مالي ۴ ، سومالیا ۳ ، لیبیا ۷ ، ارجنتاین۱ ، پاکستان ۹، آستریا ۱۴ ، مکسیکو ۷ ، فنلند ۵ او یونان ۸ .په لاندیني لښتنلېک کې ټول هیوادونه نه دي یاد شوي. د کي جي بي امنیتي مأمور د کي جي بي د میشتې څانګې قانوني غړی دئ چې د سفیر لپاره په امنیتي چارو کې د اسیستانت په توګه ټاکل کیږي. د هغه عملي دنده دا ده چې په یوه ( تر نښې لاندې) هیواد کې د شوروي د سفارت او دیپلوماتیک استازیتوب او د هغوی د رسمي دندو، د شوروي هغه اداري چې په اړوند هیواد کې کار کوي ، په بهر کې د شوروي د اتباعو او د هغوی د کورنیو خوندیتوب په اړه امنیتي چارې تر لاس لاندې ونیسي. په ځانګړې اکر وکر کې امنیتي مأمور دنده لري چې د کوربه هیواد له امنیتي چارواکو سره رسمي اړیکي ټینګې وساتي.

| ټوله شمیره | نور لکه: د مارفلوت اټومي ایجنسي | ملګري ملتونه | الف پ.ن نووستي | ت اس | ایروفلوت | د سوداګرۍ وزارت | د بهرنیو چارو وزارت | هیواد/ ښار |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۳۳ | ۱ | ۱۳ | | ۱ | | ۲ | ۱٦ | نیویارک |
| ۲۱ | ۴ | | | | | ۳ | ۱۴ | واشنګتن |
| ۲۴ | ۲ | | | | ۲ | ۹ | ۱۱ | انګلستان |
| ۱۴ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۱ | ۴ | ۵ | فرانسه |
| ۱۲ | ۲ | | | | | ۳ | ۷ | لویدیځه جرمني |
| ۹ | ۱ | | | | | ۳ | ۵ | ایتالیا |
| ۳ | | | | | | ۲ | ۱ | سویتزرلند |
| ۷ | | ۳ | | ۱ | | ۱ | ۲ | ناروې |
| ۹ | ۱ | | ۱ | ۱ | ۱ | ۳ | ۲ | سویډن |
| ۹ | ۲ | | | ۱ | ۱ | ۲ | ۳ | دنمارک |
| ۷ | ۲ | | | | | ۴ | ۱ | هالند |

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



| | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| بلجیم | ۲ | ۲ | ۲ | | | | | ٦ |
| ایران | ۴ | ۳ | | ۱ | | | ۴ | ۱۲ |
| کمبودیا | ۲ | | | | | | ۱ | ۳ |
| جاپان | ۷ | ۲ | | | ۱ | | | ۱۰ |
| برما | ۲ | ۱ | ۲ | | | | | ۵ |
| تایلند | ۳ | ۲ | | | | ۱ | ۱ | ۷ |
| اسرایل | ۴ | ۱ | | ۱ | | | | ٦ |
| ترکیه | ۱۰ | ٦ | | | | | ۲ | ۱۸ |
| ایتوپیا | ۱ | | | ۱ | | | ۱ | ۳ |
| موروکو | ٦ | ۱ | | | | | | ۷ |
| یوراگوای | | ۱ | | ۱ | | | | ۲ |
| کاناډا | ٦ | ۱ | | | | | | ۷ |
| هندوستان | ۲ | ۳ | ۱ | | | | | ٦ |
| اندونیزیا | ۲ | | ۱ | ۱ | | | | ۵ |
| عراق | ۴ | ۱ | | | | | ۱ | ٦ |
| مصر | ۳ | ۱ | ۲ | ۱ | | | ۲ | ۹ |

[15]دمصحح یادښت لیک: د افغانستان په شمال ختیځ کې یو ښارګوټی

[16]د مصحح یادښت لیک: د افغانستان د ګټو د ساتنې اداره له کودتا وروسته د افغانستان عمومي څارګره اداره وه چې د شوروی له یرغله وروسته د خاد [خدمات اطلاعات دولتي] په نامه و نومول شوه.

[17]دمصحح یادښت لیک: د امریکا متحده ایالات.

[18] V.G. Osadchy

[19] P.S. Golivanov

[20] Lieutenant-Colonel S.G. Bakhturin

[21] Y.L. Kukhta

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[22] Bogdanov

[23]د لیکوال یادښت : " په طبقاتي شخړه کې وسله په لاس ملګري" یوه ګروپینه یا اصطلاح ده چې : څرګنده دوه مخي یا (هیپوکراسۍ) ، تر پرتمینې ځلا لاندې پټه شوې وي. په دې ګروپینې کې تر ټولو غټه خبره پیاوړتوب او ځواک دئ. کې جي بي له افغان ملګرو سره د کار کولو په وخت کې د هغوی له غوږونو په ځو ځو ځله ور تیره کړه چې شوروي اتحاد د نورو هیوادونو په شان نه یوازې ستاسو جغرافیوي ګاونډی هیواد دئ برعکس د ټولې نړۍ د پرولتاریا لپاره د هغه پره سره باندې دا شعار لیکل شوي چې : " د نړۍ پرولتاریا یو موټي شئ !" ( په افغانستان کې د ټول ولس له ۱۵ میلیونو څخه د پرولتاریا شمیر یوازې ۲۵۰,۰۰۰ وو). د شوروي اتحاد سوسیالیستي جمهوریتونه د ټولو کمونیستانو پلرنی ایډیالوژیک ټاټوبی وو. له دې امله پرته له دې چې یو کمونیست د نړۍ په کوم ګوټ کې زیږېدلی وي ، د کوم هیواد تابعیت و لري او چیرې ژوند کوي د هغه اړیکه خامخا له شوروي اتحاد سره یوه تلپاتې اړیکه ګڼل کېدله ، د هغه بیخ او بنسټ په همدغه شوروي اتحاد کې زرغونیده ځکه هرکمونیست له شوروي اتحاد سره د خپلې ډلې د تراوپربنسټ او کچه د شوروي اتحاد له کځوړې او شونډک څخه د ژوند اړینه تومنه ترلاسه کوله. که ددوې ډله یا ځانګه له شوروي اتحاد څخه پریک شوې وای نو څرګنده ده چې ډله مړاوې کېدله ، په ټوټو ټوټو ویشل کېدله او پایله یې د ځواک ، درنښت ، دریځ او نوم له لاسه تلل ول. د [فرانسې د کمونیست ګوند مشر] موریس تورز یو وخت د یوه کمونیست عمومي احساس په دغو ټکیو کې رانغاړلی وو : کله چې یو کمونیست د شوروي اتحاد ترڅنګ جګړه کوي ، دغه احساس له ملګرتوبه لوړاحساس دئ ، له پیوستونه لا لوړ دئ. دا زموږ لپاره هم یو جګړه ده. موږ ته د لینن خبره په یاد راځي... 'موږ انترناسیونالیستان یو. موږ هڅه کوو چې یو بل ته په یو موټې توګه نیږدې شو ، موږ غواړو چې د نړۍ د ټولو هیوادونو کارګران او شپانه د یوه نړیوال یوګړي شوروي اتحاد په جمهوریت کې راغونډ شي." اوس وینو چې شوروي او نړیوال نومیکلاتوران په ټینګه او د پراخو ګامونو په اوچتولو ، د خپلې پرتمینې موخې پرلوردرومي .

[24]د لیکوال یادښت لیک : کله چې په یوه هیواد کې د شوروي رژیم ته ورته یو رژیم رامنځته او د کې جي بي ایجنټان د رژیم واګې په لاس کې ونیسي او د واکمنۍ پیاوړي دریځونه ډک کړي نو د هغه اړیکې له هیواد سره د یوه ایجنټ په توګه شلول کیږي اوپه دې کې یو شمیر ایجنټان د اړیکو د ډیر ډاډ وړسرچینه ګرځي. د جاسوسي اړیکې او د ډاډ وړ اړیکې له یو بل څخه څه توپیر لري؟ په څارګرو کړیو کې د جاسوسۍ یا ایجنټ اړیکې د څارګرې څانګې او د هغه سرې ترمنځ اړیکو ته ویل کیږي چې د جاسوسۍ کار لپاره راوړل شوی وي او د یوه اینجټ په توګه یا د خپل هیواد تر بیرغ لاندې او یا تربل بیرع لاندې تر جعلي نوم لاندې خپله همکاري پټه ساتي. ایجنټ ، یا د څارګري خدماتو له یوه رسمي مأمور یا د یوې اداري له یوه استازي سره د پټې همکارۍ د تړون پر بنسټ جاسوسي کارونه په ډیر ځیر، په پټه او سیستماتیک ډول پرمخ بیایي ، دغه کارونه کلکه ناکله د یوې جعلي اداري له لارې پرمخ بیول کیږي چې نوموړې اداره په پټه د څارګرې څانګې د مامور یا د ایجنټ له پلوه پرمخ بیول کیږي .

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



د ډاډ ور اړيکې او د ډاډ ورهمکاري د جاسوسي هغه ډول اړيکي دي چې د يوه څارګرمأمور(د يوې قاعدې په توګه خپل څارګري هويت پټ ساتي) او د هغو کسانو ترمنځ چې څارګرو څانګو ته هېڅ ډول ژمنه نه لري خو جاسوسي خدمات د څارګرو مأمورينو په غوښتنو د هغوی د وسې په کچه د يوه ځانګړي محدوديت په کړی، کې چې هغوی ته د منلو وړ وي ، ترسره کوي .

د ډاډ ور اړيکو کسان څارګرو ته د ايدیالوژيکي او سياسي سياليو، د علاقې وړ موادو ، د ملګرتوب او نورو اړيکو په اړه چې له هغوی سره يې ټينګې کړې دي ، مالومات ورکوي.

دداسې اړيکو بنسټ : معنوي ، د يوه سړي د اړتيا وړ مواد ،د هغه ليوالتيا او شخصی کرکتر دئ چې څارګر دغو بيلګو ته په کتلو هغه د ډاډ وړ اړيکو ټينګولو ته را پاروي .

د اغيزو اړيکې يا په بله وينا اغيزمنې اړيکې په يوه دولت او سياسي کړيو کې د ځانګړي اهميت لرونکي دي چې د يوه دولت په ارګان او د (په نخښه شوي) هيواد په سياسي او ټولنيز ژوند کې د يوه څارګر مأمور له پلوه د داسې اقداماتو ترسيوري لاندې پلي کيږي چې پر نومورو برخو اغيزه وشيندلای شي. دداسې اړيکو په منلو بهرنی سړې اړ دئ چې د خپل هيواد د قانون او نورمونو په اډانه کې کاروکړي او ځان د جنايي پلټنو د ګواښ ښکار ونه ګرځوي. خو په دغسې اړيکو کې هغه داسې کارونه ترسره کوي چې د عادي پيژندګلوي له نورمونو دباندې دي او په څرګنده پوهيږي چې څارګر نه د يوه څارګر توګه بلکه ترخپلې وسې د يوه بنسټ ، د استازي په توګه يوازې [اکت] کوي او څرګندوي چې د ځان د ګټې لپاره نه بلکه د خپل بنسټ د ګټو او اړتياوو استازيتوب کوي. له څارګرو څانګو سره د بهرني سړي اړيکي پټې وي. د ايجنټ برخلاف ، د ډاډ ور لرونکي سړي ته عملياتي روزنه نه ورکول کيږي. له دې امله د ميشتې څارګرې څانګې مأمورين بايد دغه محرم کرکتر او د هغه اړيکې تل تر خپل څارلاندې ونيسي چې دغه اړيکې دې د هغه اشنايانو ، ملګرو يا د مخالف لوري ايجنټانو ته ورڅرګندې نه شي. کله چې د ډاډ وړ اړيکو سړی و ارزول او وآزمويل شو او څرګنده شوه چې هغه د ډاډ وړ او صادق دئ بيا له هغه غوښتنه کيږي چې د خپلو اړيکو تومنه خپلو ملګرو يا د مخالف لوري خاصو خدماتي څانګو ته رسوا نه کړي او له خپلو اړيکو څخه به هېڅکله د کې جي بي د ګټو پر وړاندې ناوړه ګټه پورته نه کړي .

محرمې اړيکې له قانوني اړيکو څخه توپيرلري او د يوه بهرني او د څارګرې څانګې ترمنځ د اقتصادي اړيکو لکه د سوداګريز ثبات اويا د سوداګری د ودې په کړی کې ترسره کيږي. له هغه څخه مالومات تر لاسه کيږي او يا ورته لارښوونه کيږي چې له مخکينۍ خبرتيا پرته د بهرنې تبعې او د څارګر مامور ترمنځ د يوه دوه اړخيز پوهاوي په اډانه کې دې بهرنی سړی اړين ګامونه پورته کړي

د ډاډ ور اړيکو او د استخدامي اړيکو ترمنځ توپير دا دئ چې د اړيکو د پرمختګ په يوې ځانګړې لړی کې په لومړي پړاو کې د بهرني سړي يا د بهرني د تخلف او د ميشتې قانوني څارګرې ترمنځ د اداري د نورمونو پربنسټ د څار

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يو ځرګنده کچه شته چې په با النسبه ډول د رسمې مراحلو له لړيو څخه توپير مومي حال دا چې په وروستنيو مراحلو کې دغه محدوديتونه نه ليدل کيږي او په خپله ځارګره اداره هڅه کوي چې د ځارلو د روښانو قانوني نورمونو پربنسټ له محدويتونو او خنډونو وتلې د اړيکو د نيولو هڅه کوي .

کله چې يوه اړيکه تر هدف لاندې نيول کيږي ځارګره څانګه بايد پوه شي چې آيا دا اړيکه له ايجنټ سره ده يا يوه د ډاډ وړ اړيکه. د وروستني هدف مـُعـَرفه بايد د لومړنيو عمومي اهدافو په اړانه کې رانغاړل شوي وي. په يوه استخدامي هدف کې د محرميت اجزاوي په ډير ځرګند او روښانه ډول ويل شوي وي. ورکول کيدونکې دنډې ډيرې روښانه او د پرمخ بيولو ميتودونه يې په مشرح ډول ورته ويل کيږي. په دې کې بايد ډيره پاملرنه وشي چې د ځارګرې څانګې د پام وړ موخې او ګټې ورڅخه تر لاسه شي او د ميتود کار بايد عملي وي. په دې برخه کې د استخدام شوني ډولونه او د يوه اينجنټ په توګه د هغه د پټې همکارۍ لپاره ټول ميتودونه سپړل کيږي .

په ځارګريزو کارونو کې د پټو اړيکو يو ډول هم شته چې د ډاډ وړ اړيکو ته ورته والی لري.دغې ډول اړيکې ته " ځانګړې غير رسمي اړيکه وايي". په دغه ډله کې يوازې د دولت او سياسي کړيو مخور کسان راتلای شي لکه د يوه هيواد ولسمشر ، د دولت مشران، د لويو سياسي ګوندونو مشران ، د نړۍ د سوداګريزو بنسټونو غړي ، په بله وينا په دغه ډله کې هغه کسان ځای موندلای شي چې په ملي يا نړيواله کچه پياوړې اغيزه ولري. د " ځانګړې غير رسمي اړيکې" برياليـ او هوښياره کارونه دا ده چې د همدغو اړيکو لرونکی ، بايد ميشتې ځارګرې څانګې ته يوه مثبته ونډه تر سره کړي. يوازې د کې جي بي عمومي رئـيس دا واک لري چې د " ځانګړې غير رسمي اړيکې" دوسيه يا وتړي او يا يې پرانيزي .

[25] [Boris S.] Ivanov

[26] Bogdanov

[27] Gorelov

[28] E.I. Nekrasov

[29] Suslov

[30] Ponomarev

[31] A.G. Polyakov

[32] Rostislav A. Ulianovsky

Download from: ketabton.com

د مصحح يادښت ليک: روستيسلاف الف. اوليانوفسکي د شوروي اتحاد د کمونيست گوند د مرکزي کميټې د نړيوالو اړيکو مرستيال وو.

[33] Khamil Turabaz

[34] Ponomarev

[35]د مصحح يادښت ليک: وروسته څرګنده شوه چې نوموړی د جمهوريت د روغتون رئـيس وو.

[36]د مصحح يادښت ليک:بريد جنرال شاه پور احمد زی.

[37]د مصحح يادښت: روح الله خميني ايراني شيعه عالم د ۱۹۷۸ - ۹ ز کال ايراني انقلاب لارښوونه وکړه او په ۱۹۷۹ ز کال کې يې رضا شاه پهلوي را وپرځاوه او د ايران سياسي � مذهبي واکمن شو.

[38]د مصحح يادښت: د جمعيت اخوان المسلیمن د ټولنې بنسټ په ۱۹۲۹ ز کال کې د حسن البنأ له پلوه کښيښودل شو چې يوه سياسي � مذهبي او اسلامپالې ټولنه وه او موخه يې د مسلمانانو د ژوندانه په هر اړخ کې د اسلامي قانون پلي کول ول.

[39] Abdullah Akhad Umusi

[40] Urals

[41] Siberia

[42]د ليکوال يادښت ليک : گوند کټ مټ د چيکستانو کړه وړه ترلاس لاندې ونيول. د تش په نامه بنسټيز قانون تر نامه لاندې نا اوريدل شوي غوړي ډنډوري خپريدلې چې گڼې دغه قانون ډير انساني او عادل دئ ، يو رښتونی ولسي ستالينستی اساسي قانون چې د وگړو بشري حقونه ساتي خو د هغه ترڅنگ د ستالين ساديستي شيطاني چال چلند وو چې په پټه خوله زغمل کيده. پلانونه ترلاس لاندې ونيول شول چې د ولس د ښمنان دي ونيول شي او جزأ دي ووينې. د چيکيستانو د سوسياليستي سياليو پربنسټ په ميليونونو انسانان و نيول شول چې ددښمن په ښکارولو کې خپلې موخې تر سره کړي. هغوی ووېل چې په ولادي واستوک کې له ترويکاوو څخه يو تن پرته له دې چې خپل پلار ته وگوري ، يا يو شبهه فکر وکړي او يا يې مخه ونيسي په پټو سترگو د خپل پلار د اعدامولو امر لاسليک کړ. د پلان د بشپړولو لپاره وخت نه وو .

داسې پيښې هم شوي چې په مسکو کې يو بې تجربې ځوان چيکيست څو ځله په ورکړل شوي هدف کې چې ددښمن ،جاسوسانو او د ترهگر نيول ول پاتې راغلی وو. په غونډه کې پر هغه کلکې نيوکې وشوې ، هغه لټ او له نوښته بې خبر وگڼل شو. يوه ورځ د همکارانو له ډلې څخه د يوه زوړ همکار زړه وربانديې وسوځيد او ورته يې ويل : " ته ليونی

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



يې هلکه. دا خو ډېر آسانه کار دئ. ډېر شيان دي چې ته يې کولای شي.د آپارتمانونو يوه بلاک ته ولاړ شه او د ميشتو کسانو نومونه يکې وګوره. په ليست کې يو نوم او يوه شميره خوښه کړه. په دولتي دفترونو کې د سپين سترګو مأمورينو نيول تر دې لا آسان دي. دا هغه ځايونه دي چې دښمنان پکې پټيږي!" له جګړې مخکې د استوګنو وګړو نومونه د ودانۍ د ديوال پرمخ يا د ودانۍ د ننوتلو په دالان کې ځړول کيدل. دلته دوه بيلګې راوړل کيږي چې څنګه کارونه تر سره کيدل. م . ت. ديسکانټ يو يهودی وو چې په ۱۸۹۸ز کال کې زيږيدلی وو او په ۱۹۳۸ز کال کې په چيټا کې و نيول شو.هغه اعتراف وکړ چې د جاپان ، جرمني او پولند څارګرو ادارو لپاره يې کار کاوه او هم د تروتسکي په فعاليتونو کې ښکېل وو." زه پوهيږم چې ما د يوه مار په شان ژوند کړئ او پرته له دې چې څوک راباندې يوه شي چيچل مې کول. زه پوهيدم چې زما احمق کار زما زيارګاله او هڅانده ميرمن خوښه نه ساتله او اوس له مرګ وروسته دوه ماشومان مې پاتې کيږي چې پر مابه ډېر سپک وواييي او د ژوند تر پايه به له ما کرکه ولري. خو زه د خپل ژوند په وروستيو شېبو کې يوه شوی يم چې ځان او حراميان به افشأ کړم. زه په ډېره خوښه د خپلو ګناهونو د جبيرې لپاره د مرګ مخې ته ورځم ".

په محکمه کې ديسکانت د پلټنو په لړۍ کې له خپلو ورکړل شويولاسوندونو او شواهدو څخه منکر شو. هغه وويل چې هغه وهل او ټکول شوی دئ ؛ هغه په غلطه د هغو کسانو پرځای نيول شوئ چې بهرنيو څارګرو ادارو او تروتسکي ته کار کوي. او هغه داسې څه نه دي کړي چې دې دې پرې پړ وګڼل شي. د اعترافاتو پروتوکل ور باندې د پلټونکي (مستنطق) بالادين له پلوه په وچ زور لاسليک شوې. ديسکانت اعدام شو .

د ن ک وي ډي ايجنټ د. الف.بيسترولیتوف ، په بهر کې بد چال چلند درلود او په هيواد کې يې هم دومره نيکمرغه شپې ورځې نه درلودلې.

له هغه څخه اوس د يوه نمونه څارګرپه نوم يادونه کيږي. هغه په څلورو هيوادونو کې د جاسوس په توګه افشا شو. د هغه لاسوندونه له يوه اوسپنيز کيبل سره چې په سر کې يې يو پنډوسکی وو ونيول شول. پلټونکي سولوف يوف او د هغه زده کوونکي شوکشين د بيسترولیتوف دوې پښتۍ ور ماتې کړې ، ټېر يې ور سوری کړ او د سر کوپړۍ يې په بنداژ پوښل شوي يوه سټک ، ورماته کړه. د هغه د نس عضلات يې په بوټانو ور وڅيرل .

له هغې ورځې چې د چيکا بنسټ ايښودل شوې د ګوند د يوازيني ارګان په توګه يې شتون درلود او نيغ په نيغه يې د ګوند تر سيوري لاندې کار کاوه. د ګوند تر دايرتيکيفونو لاندې يې کار کاوه او ولکه يې د ګوند په لاس کې وه. لينن ويلي دي : " انقلابي ځواک او ديکتاتوري تر ټولو ښه شی دئ ...' لينن د ۱۹۲۲ زکال د جنوري په ۳۱ نېټه يونشليک ته په يوه ليک کې وليکل : ' زه نه شم کولای په سياسي بيرو کې واوسم... زه ګومان کوم چې زه ورته اړتيا

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



نه لرم. اوس د نړه تخنیکي اقداماتو د نیولو وخت راغلی دئ چې زموږ نیاوتونونه (محکمې) دې پیاوړې شي او د مینشویکانو د ټکونو لړۍ ګړندۍ کړي." دا د لینین خبرې وې .

د چیکا د ۵۰ کلنۍ په لمانځنې کې د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو د سترې محکمې مشر ومنله چې : " د شوروي نیاوتونونه او د شوروي اتحاد د سوسیالیستي جمهوریتونو دولت امنیتي څانګې همزولې دي. یوازې همزولي نه ده بلکه زموږ موخې له یو بل سره یو موټې کوي...زموږ بریا په دې کې ده چې د ددولت امنیتي ارګانونه او نیاتونونه د ټولو سختو ستونزو په اړه د دوه اړخیز پوهاوي او ګډ کاري هوډ تر سیوري لاندې کارکوي"...

لاسوندونه ددولت له پلوه د وهل شویو تورونو په ګټه منحرفیدل. لوی څارنوال ویشینسکي به ویل چې پر سیاسي مخالفینو تور لګولو ته اړتیا نسته او هیڅ اړ نه یو لاسوندونه ورته په پام کې ونیول شي. یوازې د نیول شوي سړي اعتراف بس دئ.

د ۱۹۵۲ زکال په پای کې ستالین امر وکړ چې د لویدیځو پانګوالوهیوادونو له څارګرو څانګو سره د ډاکټرانو په اړه دې د اړیکو او دروهو له مخې څادر لیرې او ودې موندل شي. یو پلټونکي چې پر یوې ډیرې څانګړې پلټنیزې برخې یې کار کاوه له توکمیز اړخه یو یهودی وو او په دې تور ونیول شو چې د اسراییلو سفیر ګولدا میر ته یې مالومات ورکول. [ له روسي متن څخه ۷ ټکي ورک دي] .

په یوې ککړې او لوخړنې هوا کې هرڅه چې وکړې سمه سا نه شې کښلای. ته نه شی کولای طبیعت ته بدلون ورکړې. دولت به تر یوې کچې به وکولای شي د ډیموکراسۍ د ښکلو پَردو او شعارونو تر شا ځان پټ کړي ، بیا رغاونه [پریستوریکا] او د خلاصو دروازو سیاست به را خپل کړي. خو ددغو پردو تر شا ان نن د کي جي بي لوی مشر چیبریکوف منلي چې چیکان لا تر اوسه خپل ایجنټان هڅوي چې غیرقانوني ګامونه پورته کړي ، جعلي لاسوندونه جوړ وي او له هغو څخه د خپلو موخو د ترلاسه کولو لپاره کال واخلي. څرګنده ده چې په ګزارشونو کې له دغو خبرو یاونه نه ده شوی ، پر کال ۱۹۸۳ز د اکتوبر په ۱۱ نېټې د مسکو او مسکو ته ور څیرمه د کي جي بي ټولو لوړ پوړو کارکوونکو ته ویل شوي ول چې : " د شوروي اتحاد د سوسالیستي جهوریتونو د کي جي بي د جون د ۴ د ۱۹۸۳ ز کال د ۰۰۱۴۰ شمیرې په لارښود کې لیک ټینګار شوې چې د ایجنټانو او د ډاډ وړ کسانو په اړه دې چټکتیا او پرمختیا ته وده ورکړل شي." د چیبریکوف په وینا له دغه ګام څخه ټولیزه موخه دا وه چې د ساینس ، تکنالوژۍ او روڼ اندی ځوان زوزات (نسل) دې دښمن له هغو هڅو وژغورل شي چې غواړي هغوی د مارکسیسزم او لیننزم له اغیزو لیرې کړي ، دوی دې ترڅمکې لاندې پټو ډلو ټپلو، سیاسي مخالفو ټولنو ، د فلسفي کړیو پوهانو ، سیمه یزو توکمیزو، مذهبي ، صوفي ډلو پر وړاندې جګړه وکړي او د رژیم منځته د هغوی د ننوتلو مخه دې ونیسي. کي جي بي باید د ټولنې په منځ کې وي او د ټولنې هر غړی دې وپیژني او په ټولنه دې د هر پیښیدونکې بدلون پر وړاندې اړین ګام اوچت کړي ، ددغو پیښو له پیښېدلو مخکې دې خپلې اټکلنې ولري او د منفي اغیزو د

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



رامنځته کيدلو مخه دي مخکې له مخکې ونيسي." دا د ايجنټانو کار دئ ؛ په دغو چارو کې د کې جي بي د ډاډ وړ او ښه روزل شوي کارکوونکي پخه ونډه لوبوي. د چيکيستانو دغه ورهڼه او کارپوهنه يوه ځانګړې دنده ده چې يوازې چيکسيتان يې تر سره کولای شي. د يوه سړي په ژوند کې قياس ځای نه لري .

[43] V.A. Kryuchkov, the head of the First Chief Directorate (FCD) of the KGB

[44]د مصحح يادښت ليک: تره کي په ۱۹۷۹ ز کال کې ووژل شو.

[45]د مصحح يادښت : محمد حسن شرق

[46]د مصحح يادښت : د لومړی ضميمې د ايجنټانو له ليست څخه

[47]د مصحح يادښت : د لومړی ضميمې د ايجنټانو له ليست څخه

[48]د مصحح يادښت: ډګر جنرال محمد رفيع د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د پرچم د ډلې غړی ، د فوائدعامې وزير د ۱۹۷۸ز کال د مې له مپاشتې تر آګست پورې ؛ له هغه وروسته بې واکه شو. د کارمل په رژيم کې له ۱۹۸۰ تر ۱۹۸۲ بيا له۱۹۸٦ تر ۱۹۸۸ ز پورې د دفاع وزير او له ۱۹۸۱ ز کال وروسته د سياسي بيرو غړی

[49]د ليکوال يادښت: د امين خبرې ددې څرګندونه کوي چې کې جي بي چې له پخوا په افغانستان کې وه او له افغانانو سره يې د جاسوسۍ اړيکې ټينګې کړې وې اوس هماغه کسان چې د کې جي بي مرستندويان ول په هيواد کې ددولت او سياست لوړې مخورې څيرې ګرځېدلې دي.

[50]د مصحح يادښت: سلطانعلي کشتمند د پرچم د ډلې غړی او د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند په لومړي دولت کې د پلان وزير. د غوايي د انقلاب له خومياشتو وروسته د پرچم د ډلې له نورو مخکښوغړو سره له کاره ليرې ، بندي او په مرګ محکوم شو. د هغه د مرګ سزا وروسته په زندان کې ۱۵ کالو ته راټيټه شوه. کله چې ببرک کارمل د واکمنۍ پر ګدۍ کښينول شو کشتمند د افغانستان د خلق ډيموکراتيک ګوند د سياسي بيرو غړی شو او يو کال وروسته [۱۹۸۱ تر ۱۹۸۸ ز] پورې سر وزير و نومول شو.

[51] B.N. Ponomarev

[52]د مصحح لاسليک : غلام دستګيرپنجشيری د کابل د ښوونکو د روزنې په انستيتيوت / د کابل عالي دارالمعلمين کې د ادبياتو پخوانی ښوونکی او وروسته د دولت لوړپوړی چارواکی

[53] Ponomarev

[54] B.S. Ivanov

Download from: ketabton.com

د مصحح يادښت ليک :باريس س. ايوانوف د کي جي بي مأمور ، د ۱۹۷۹ز کال له پسرلي ورسوته د بريد جنرال په رتبې د کي جي بي افسر

[55] Ponomarev

[56] L.P. Gorelov

د مصحح يادښت: تورن جنرال ليو ن. گوريلوف

[57] General N.S. Veselkov

[58] I.Y. Drozdetsky

د ليکوال يادښت: دا هماغه الف ی دروزدڅکي دئ چې د ختيځ جرمني د کورنيوچارو په وزارت کې د کې جي بي د پلاوي په ډله کې په ختيځ جرمني کې د مخابراتو د مأمور په توگه ددسيسو او غيرقانوني کړنوپه تورونو پړ گڼل شوی وو. د جرمني ملگرو په مرسته يې د شوروي اتحاد سوسياليستي جمهوريتونو د کورنيو چارو وزارت شوکولوف ته د گرانبيو توکو غټه شميره را وليږله. ميکلي ، د کي جي بي پلاوی ی. الف. فاديکين خبر کړ چې په دغي دروهې کې ښکيل جرمنان نيول شوي او محکمه ته شي. دروزدڅکي په بيړه را وغوښتل شو خو ددې په بدل کې چې زندان ته ولويږي او لاس يې ونيول شي هغه د شوروي اتحاد د کورنيو چارو په وزارت کې ومنل شو.شوکولوف نوموړی د جنرال په رتبې کميسار و ټاکه.

[59] A.I. [Ilyin],

[60] N.K. Grechin

[61]د ليکوال يادښت: افغان متل دئ چې وايي " ته هرشی راوړئ خو نه پوهيږئ چې څه ته اړتيا لری". امين افغانان و هڅول چې هرڅه چې وغواړئ " روسان يې درکوي. افغانستان د شوروي اتحاد د سوسياليستي جمهوريتونو لپاره ډير ارزښت لري ، افغانستان دئ چې شوروي اتحاد دی. له دې امله شوروي د هر ډول قرباني ورکړې ته چمتو دئ"

[62] Zotov

[63]د مصحح يادښت: عبدالقدوس غوربندي

[64]د مصحح يادښت: بريد جنرال واسيلي پ زپلاتين له ۱۹۷۸ ز وروسته د افغانستان د وسله وال ځواک لوی سلاکار

Download from: ketabton.com

ketabton.com - The Digital Library



[65] Khramchenko

[66] د مصحح یادښت: ګیلاني باختري ، د داؤود په رژیم کې د کرهڼې وزیر.

[67] Lieutenant-Colonel Kalinin

[68] Gorofes

[69] Major N.S. Semenchenko

[70] N.A. Krus

[71] Kisiliev

[72] Ryabchinsky

[73] Kostin

[74] Maloletkin

[75] S.P. Tutushkin

Download from: ketabton.com

## Thank you for reading

Find more e-books and articles on Ketabton - your multilingual digital library.

**www.ketabton.com**

*Ketabton - Pashto, Farsi, Arabic & English*